

د خالق او مخلوق

ترمنځ دواسطی پیژندل

د «الواسطة بين الحق والخلق»

پیشتو ترجمه

Kingdom of Saudi Arabia
The Cooperative Office For Call And Guidance
To Communities at Um Al-Hammam
Under the Supervision of the ministry of Islamic Affairs
Endowment Guidance & Propagation
Tel. 4826466 / 4884496 Fax 4827489 - P.O. Box 31021 Riyadh 11497

Pustu
28

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



الواسطة
بين الخالق والمخلوق

تأليف

شيخ الإسلام ابن تيمية «رحمه الله»

(بلغة البشتو)

المملكة العربية السعودية
المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد وتوعية الجاليات بأم الحما
تحت إشراف وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرش
ت: ٤٨٢٦٤٦٦/٤٨٨٤٤٩٦ فاكس ٤٨٢٧٤٨٩ - ص.ب ٣١٠٢١ الرياض ٤٩٧

بشتو
٢٨

(c) ketabton.com: The Digital Library

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ءَآللّٰهُ خَيْرٌ أَمَّا يُشْرِكُوْنَ

«سورة النمل: ٥٩»

دخالق او مخلوق

ترمنځ دواسطی پیژندل

د «الواسطة بين الحق والخلق»

پښتو ترجمـــه

مؤلف: شيخ الإسلام ابن تيمية «رحمه الله»
«٦٦١ - ٧٢٨هـ ق»

ژباړن: قاضي محمد شعيب «صافی»

(c) ketabton.com: The Digital Library

ح المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد بحائل ، ١٤١٨هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر
ابن باز ، عبد العزيز بن عبدالله
الواسطة بين الخالق والمخلوق .. حائل .
٩٦ ص ؛ ١٢ × ١٧ سم
ردمك : ٢ - ٤ - ٩١٨٧ - ٩٩٦٠
(النص بلغة البشتو)
١- العقيدة الاسلامية ٢- الايمان (الاسلام) أ- العنوان

ديوي ٢٤٠ ١٨ / ١٨٦٥

رقم الايداع ١٨٦٥ / ١٨
ردمك : ٢ - ٤ - ٩١٨٧ - ٩٩٦٠

دکتاب نوم : دخالق اومخلوق ترمنځ دواسطی پیژندل
مؤلف : شیخ الاسلام احمد بن عبد الحلیم بن عبد السلام ابن تیمیه رح ٦٦١ - ٧٢٨ هـ ق
ژباړن : قاضی محمد شعیب (صافی)
ناشر : مکتبة الامام محمد بن اسماعیل البخاری جهانګیرآباد نمبر ٣ شیخ وله پشاور پاکستان -
دچاپ نیټه ٢٠ / جمادی الثانی - ١٤١٥ هـ ق
دچاپ شمیر (١٠٠٠) ټوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

د موضوع سرلیک (عنوان)	مخ
د ژباړن سریزه	الف
د مصنف لنډه پیژندنه	ج
د څیړنې سریزه	۱
د الله (ج) او بندګانو ترمنځ د واسطې معنی	۱۸
چا چې قرآن ولوستلو او عمل یې ودباندې وکړ....	۲۰
رسولان د الله او بندګانو ترمنځ واحکامو رسولو په څېړنه کښې واسطې	۲۴
غیر مشروع واسطه	۲۹
فرښتو او نبیاؤ سره د تکلیف لرې کولو اړه نشته	۳۱
په الوهیت کښې د فرښتو او نبیاؤ ځینې کفردی	۳۳
علماء د رسول الله صلی الله علیه وسلم او امت ترمنځ یې یواځې واسلام....	۳۵
د خلقو او پاچایانو ترمنځ واسطې په دری ډوله دی	۳۹
شفاعت د الله پاک د اذن پورې اړه لري	۴۳
د هغې په حق کښې اعتراض طریقه دعاغوښتل او دغه راز بالعکس	۵۳
دواړه مشروع طریقې دی.	
دعا داعی او مدعوٌ له دواړو ته ګټه رسوی	۵۷
په الله باندې توکل اویواځې د الله تعالی څخه ویره او امید ساتل د	
توحید څخه عبارت دی.	۶۶
هغه اشیاچې الله پیدا کړې دی انکار ترې نشی کیدای.	۷۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د ژباړن سریزه

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم، اما بعد:

دا بنکاره او یقینی خبره ده چې د انسان د خلقت او پیدایښت څخه اصلی مقصد هم دا دی چې دی به د الله تعالیٰ عبادت او بندګی کوی، او د سورۀ ذاریات دغه مبارک ایت (وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ) د دې مدعیٰ د ثبوت یو څرګند دلیل دی، هُګه په دغه مبارک آیت کښې الله تعالیٰ فرمایلی دي: او نه دی پیدا کړی ما پیریان او انسانان مګر دې لپاره چې پیدا کړی دي چه هُما عبادت وکړی. او انسان هله د کمال مرتبې ته رسیږی چې د الله تعالیٰ په عبادت او بندګۍ کښې د الله پاک د حکمونو مطابق په سمې او حقیقي معنیٰ سره عبد جوړ شی.

همدارنګه په دې کښې هم شک نشته چې انسان یو معزز او مکرم مخلوق دی. او لکه چې الله پاک فرمایی: (وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ وَحَمَلْنٰهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ.... الایه (۱)

(۱) اسراء: (۷۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حُکمه کښی د نورو مخلوقاتو په نسبت سره په جسمی او معنوی لحاظ د نورو صفتونو لرونکی او د زیاتو خانګرتیاؤ څښتن دی، چی په دغو ټولو خانګرتیاوو او صفتونو نوکښې یی بیا عقل د پام وړ امتیازی صفت دی چی الله ﷻ په دې باندې د هغې پیژندو نه کړې ده۔

اما بیا هم انسان د عقل او نورو خصوصیاتو په لرلو سره نشی کولای چی د الله پاک د بندګی او عبادت اقسامو او همدارنګه د عبادت کولو کیفیت او طریقه و پیژنی او بیا په هاغه طریقه باندې د خپل خالق په ویاندې په عبادت کولو باندې مشغول شی، او عبادت یی د الله تعالیٰ د رضا حاصلولو سبب وګرځی، او بالاخره بیا هغو جنتونو ته د ننوتلو جوګه شی د کوم وعده چی الله پاک د نیکانو او مطیعو بندګانو سره کړې ده۔

پس د همدغه ضرورت له مخی الله پاک انبیاء علیهم السلام را ولیږل، ترڅو د وحی په رڼا کښی انسانانو ته لار ښوونه وکړي او همدوی په دنیا کښی د هدایت حاصلولو په برخه کښی د یواځنۍ

= او یقیناً عزت ورکړې دئ مونږ
اولاد د آدم ﷺ ته او سواره کړي دي مونږ دوئ لره په وچه او د سمندر باب کښی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرجع په توګه سره و پیژندل شی۔

د اسلامی امت ستر لار ښود محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټولو انبیاؤ کښې اخرنی او غوره پیغمبر دی او کوم کتاب چې په ده باندې نازل شوی د ی هغه د ټولو اسمانی کتابونو په نسبت جامع او اکمل دی، او شریعت یې کامل او مکمل دی۔

پس په دغه کامل او مکمل شریعت کښې خلقونه د دې موقع نه ده ورکړل شوی چې د وی په شرعی امورو کښې د شرعی اصل څخه پرته، د عقل او فاسد قیاس څخه کار واخلی۔ ولې متاسفانه بیا هم یوزیات شمیر خلق د وسیلې متعلق په دې عقیده دې چې الله پاک ته د ډوا تو فاضله او واسطه کول یو ضروری او لازمی امر دی! دوئ په دې برخه کښې د خپل ناقص عقل او فاسد قیاس څخه کار آخلی او وایی :

د لته په دنیا کښې د حکومتونو تعامل او طرز العمل داسی دی چې کله والیانو، وزیرانو او نورو دولتی مشرانو ته غوښتنلیکونه یعنی عرائض د واسطو د سفارش نه پرته د عارضینو له خوا نیغ په نیغه ورانده پې شي، نو لیاکله داسی دې چې هغه هیڅ د مسؤل مقام د پام لاندې راځی نه، او کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسی دې چې د عارض په ګټه په کښې کوم مثبت او اغیز من اجراءات صورت نه نیسی؛ دغه راز دوئ وایی: کله چې څوک واسطه ونه لري نو صدر اعظم، رئیس جمهور او پاچا ته یې په یواځې ځان ودتلل که ناشونی نه وي نو زیاتو مشکلاتو ځنځه خالی هم نه وي۔

همدارنګه دوې وایی: کله چې یوسړئ صدر اعظم، رئیس جمهور او یا پاچا ته دوالیانو او یا وزیرانو په واسطه سره خپله عریضه او غوښتنلیك ور وړاندې کړي نو ذکر شوې دولتی مسؤلین بیاد خپلو والیانو او وزیرانو په خاطر سره د دغه سړي عریضې او غوښتنلیك ته نسبة زیات اهمیت ورکوی۔

دوئ د خپلو دغو خود ساخته ؤمقدمو په تعقیب وایی: عوام الناس یعنی عادی خلق په دې خاطر چې ګناه ګاران دی نو د حاجتونو د پوره کولو او د خپلو ستونزو او مشکلاتو د رفع کولو په برخه کښې ورله په کار دي چې ذوات فاضله، یعنی اولیایی کرام او نیکان بندګان واسطه کاندي چې د الله پاك دربارته یې غوښتنې وړاندې کړي۔

دوئ بیاد همدغه اتکل او مزخرف اعتقاد پربنیاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اولیایی کرامو او نیکانو بندګانو قبرونو او مزارونو
ته ورتلو دومی او دغیر مشروع اعمالو او قوالو
مرتکب کړی ۔

د الواسطة بین الحق و الخلق، په نوم رساله
چې پښتو ژباړه (ترجمه) یې ستاسې په وړاندې قرار
لري، د اسلامي دعوت د یو لمخکښ، مبارز او مجاهد
شخصیت شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله لخوا
د دغه دوو واسطو نیولو د څرنګوالی یعنې
مشروعیت او عدم مشروعیت په برخه کښې
د قرآن کریم او نبوی احادیثو په رڼا کښې په ډیره
مدلله توګه سره لیکل شوې ده، او د دغه مسئلې
د وضاحت او روښانه کولو په لړ کښې یوه ډیره
قیمتی او ارزښت ناکه رساله ده، او لکه چې محمود
مهمد وایي: د دې وړده چې په طلا ژر سره لیکلی
شي او په اسلامي ټولنه کښې د عمل او عقیدې د
اصلاح په باب د استفادې وړ وګرځي، که لوستونکې
د مطالعې په مهال هڅه کښه او تعصب شا ته وغورځوي
نو هڅه به ورته دا خبره مبالغه نه بلکښې حق او
حقیقت ثابت او معلوم شي ۔

ګرانو لوستونکو! لمخکښې لدې چې د نومورې
رسالې په ژباړه باندې پیل کوم لازمه ګڼم چې لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسته دکتاب مؤلف شیخ الاسلام ابن تیمیه رح په لنډ د ول سره
درسوده پیژنم او بیا مو د یو څه وخت لپاره د څیړنکي
په سریزه (مقدمه) کښې چې په څنډ ذات کښې پوه او زښتنا
اوکتورۍ لیکنه ده مشغول و ساتم، او دا په دې خاطر چې په
آیندکې په مینه او رغبت سره څنډې مطالعې ته دکتاب
تر پای پورې ادامه ورکړئ.

په پای کښې ستاسو توجو دې ټکې ته اړوم چې د
څیړونکي سریزه له دې امله چې اوږده وه نوجلاشمارۍ
درسته درسانه کمال شوه او د شیخ د څنډې لیکنې سره یې تسلسل
په نظر کښې ونیول شو چې په دې ترتیب سره تر (۱۷) لمخه پورې
سریزه ده او بیاد (۱۸) مخ څخه زمونږ د ترجمې منتخب کتاب
شروع کیږي.

پس دادی زه د وعدې مطابق په لومړي مقصد پیل کوم
او دالله تعالی څخه سوال کوم چې مونږ تر لومسلمانانو ته
په صراط مستقیم باندې چې د منعوم علیهم غیر المغضوب علیهم
ولا الضالین لارښوونه تللو توفیق راکړي.

وصلی الله تعالی علی محمد و آله وصحبه اجمعین

قاضی محمد شعیب. کنړ افغانستان.
۱۴۱۵/۳/۸ هـ ق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مصنف لنډه پیژندنه

د ده نوم شیخ الاسلام تقی الدین ابو العباس احمد ابن عبد الحلیم بن عبد السلام بن عبد الله بن الخضر بن محمد بن تیمیّة الحرانی الدمشقی دی.

تیمیّة د ده نیابی بی نوم وُچی اصلا د ده د جد اعلی (محمد) مور وه او په حنبله زمانه کښی یوه داسی عالمه، واعظه او تقوی داره ښځه وه، چی په حنبل فقیل او سیمه کښی یی په علم، پوهه، زکاوت او تقوی کښی ساری نه درلود ه او بیا دهغی د اولاد په سلسله کښی تیمیه د هغه چا لپاره تخلص وگرځیدلو چی د هغی سره یی په علم او زکاوت کښی مشابهت او ورته والی درلوده.

شیخ الاسلام ابن تیمیه ؒ په ۶۶۱ ه ق کال کښی د ربیع الاول د میاشتی په ۱۰ نیټه د حران په ښار کښی زیږیدلی دی، او کله چی تاتاری یرغل گرو فوځونو په ۶۶۷ ه ق کال کښی په حران باندی یرغل وکړ نو شیخ د شپږ (۶) کلونو په عمر وُچی والد صاحب یی ری او د کورنی نورو غړی د ځان سره واخستل، او دمشق ته مهاجر شول؛ دا ده په دمشق کښی حنبلی زده کړی ته چی په حران کښی یی پیل کړی وه ادامه ورکړه، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لنډه موده کښې یې خپل تحصیلات پای ته ورسول.
څرنګه چې نو موړی دلوړ استعداد، قوی حافظې او اعلی زکاوت څښتن ؤ، نو له دې کبله د خپل تحصیل په دوران کښې د هر فن په زده کړه کښې د ټولو همدرسو اندیوال لانو، او ملګرو په نسبت سره ممتاز حیثیت اومقام درلوده، ده به خپل درس په داسې توګه حافظې ته سپارلو چې کله به ترینه کوم ملګری او یا استاذ پوښتنه وکړه نو ده به ورته خپل ټول درس په داسې ترتیب سره تیر کړه لکه څنګه چې به یې استاذ درس ورکړی، همدا وجه وه چې ټولو استاذانو به یې ستاینه اوصفت کاوه او ملګرو به یې د ده د خدائ ورکړی استعداد په برخه کښې حسد مشروعه یعنی غبطه درلوده۔
شیخ الاسلام ابن تیمیه رح د هغو ډیښتنو اوواقعی علماؤ او مجاهدینو له جملې څخه دی چې د دعوت الی الحق په میدان کښې یې په ژبه، قلم او توره سره د جهاد وظیفه ترسره کړیده، او خپل مسؤلیت یې د خپل وس مطابق په پوره ایمانداری او خلوص سره رفع کړی دی۔
د دعوت بنیادی مقصد یې د شرک او بدعاتو ردد الله تعالی وحدانیت او یوالی ته د خلقو راښل، او په اسلامی ټولنه کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سنتو او طریقو معمول کرځول وُ، او په دغه لاره کښی دی د الله پاک نه پرته دبل چا څخه نه ویریده او نه یی ورله پروا ساتله.

ابن تیمیه رح دا سلام په تاریخ کښی د دعوت او جهاد په لاره کښی هغه هُلاند ده څیره ده چی هغه ټول عمریی د علم په تحصیل، تدریس، تالیف، او د دین څخه د دفاع، او د اسلام د دښمنانو په مقابل کښی په قتال او جګړه کښی تیر کړی دی، او په دغه برخه کښی یی داسی ستونزی او کړاوونه کالی دی چی تاریخ به یی تر قیامته هیر نکړی.

دی په هغه عصر کښی ډیر ساده علمی ځواک خاوند وُ، الله پاک ورته په هغه مهربانی سره داسی علم او پوهه ورکړی وه چی د عقل خاوندان وژاک حیران پاتی وُ.

حافظ عمر بن علی البزار لیکلی دی چی یوه ورځ دی د دی حدیث متعلق (لَعَنَ اللهُ الْمُحَلِّلَ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ) و پوښتنه شوه نو ده په دی اړه داسی مفصل بحث وکړ چی یو لوی ټوک کتاب ترینه جوړ شو.

ده دا هم لیکلی دی چی د تعجب وړ خبره لا دا ده چی شیخ یوزیات شمیر لوی او کوچنی کتابونه په زندان کښی په داسی حال کښی تصنیف کړی دی چی د مطالعی لپاره ورسره هیڅ کتاب موجود نه وُ، او بیا هم ده له یاده څخه پرځیلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تالیفاتو کښې ټول هغه څه ذکر کړي دي کوم ته چې نبوي ژ، د مثال په توګه احادیث، آثار، د علماؤ اقوال د محدثینو او مؤلفینو او ددوی د تالیفاتو نومونه یې په تفصیل سره بیان کړي او لیکلي دي.

د هغه رازده د ټولو هغو کتابونو نومونه په کومو کښې چې د هغه احادیث، آثار او د علماؤ او محدثینو اقوال ذکر دي، په فصل او باب سره یې کوته کړي دي، او چې کله د هغه تصانیف د خپرو نکولو او مطالعې لاندې نیول شوي دي نو الحمدلله غلطي په کښې مندل شوي نه دي.

امام ذهبي لیکلي دي چې شیخ الاسلام ابن تیمیه ؒ لکه څنګه چې د صحابه ژ او تابعینو دا راؤ او مسلکونو په باب کافي معلومات او آګاهي درلوده، د هغه رازیې د خلورو مشهورو مذهبونو متعلق هم داسې مطالعه لرله چې کله به ترینه په کومه مسأله کښې پوښتنه و شوه نو ده به وتې په هغه مسئله کښې د خلورو وارو مذاهبو اقوال په تفصیل سره مدلل بیان کړل.

ذهبي دا هم لیکلي دي چې ده د قرآن او سنت په استناد سره په هر یو مسائلو کښې داسې فتوا کاني ورکړي دي چې هغه په خلورو مذاهبو کښې د وجود نه لري ښکاره دلیلي دي چې نو موږ ې هیڅ کله د کوم معین او تاکلي مذهب پر اساس فتوی نه ده ورکړې بلکښې د هغه دلیل پر بنیاد یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

«صحیح»

حکم کړی دی چې د ده په نزد سنیګی ثابت شوی دی. ذهبی وایی په دی برخه کښی د ده مقصد د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت او د سلف صالحینو طریقه ژوندی کول او رواجول دی.

علامه کمال الدین ابن زملکانی ویلی دی:

کله چې به د ده (شیخ الاسلام ابن تیمیه) نه د علم په یوفن کښی سوال وشو او ده به په بحث شروع وکړه، نو آوریدونکی اولیدونکی به داسی ګمان کاوه چې کښی دی د دی فن څخه پرته په بل فن باندی نه پوهیږی او داسی ګمان به چې بل هیڅوک د ده په شان په دی فن کښی معلومات نه لری.

د شیخ د علمی مجلس د حاضرینو جملی څخه د ابن الدوری په نوم یو عالم وایی: د شیخ څخه یوه ورځ یو یهودی په شعر سره چې (۸) آته بیتونه جوړ یدل د قدر په باره کښی پوښتنه وکړه، پس شیخ لږه شیبه سکوت اختیار کړه او بیا یې په لیکنه باندی شروع وکړه، مونږ داسی ګمان کاوو چې کښی په نثر سره به یې جواب نوشته کوی، ولی ده چې کله لږ وخت روسته حاضر بینونه جواب آوړ ولو نو وموږ دلیدل چې تقریبا (۱۸۴) بیتونه یې د سوال د اشعارو د بحر او قافیې مطابق لیکلی وو او د ټولو علومو او فنونو رعایت یې کړی په کامله توګه شوی وو.

د شیخ الاسلام ابن تیمیه د مناقبو د لیکو نکود جملی څخه حافظ عمر بن علی البزار متوفی ۷۴۹ هـ په خپل تالیف (الاعلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

العلية في مناقب ابن تيمية) کښې ليکلی دی: شيخ دم په درسونو کښې د الله صلی الله عليه وسلم ذکر او يادونه د صلی الله عليه وسلم څخه پرته بيخی نه کوله او همادی په الله باندی قسم وی چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم تعظيم، درناوی او اتباع په برخه کښې دده څخه زيات بل څوک نه ويلی دی، څکه چې کله به په يوه مسئله کښې کوم حديث موجود و او دی به په دی پوه شوچې دا بل حديث په ذريعه سره نه دی نسخه شوی، نو هغه څخه بيخی معمول بها کړه او دهغه حديث په تقاضا به يې فيصله او فتوه صادره وله او د نورو ټولو قاتو څخه به يې دبل هيڅ چا قول ته که هر څوک به وکوم التفات نه کاوه.

شيخ د تاليف او تصنيف په ساحه کښې خاص او ځانګړې مهارت درلوده. او هغه وجه ده چې تاليفات يې وارې اوغټ د مورهينو او حفاظو په قول سره ديوړ څخه زيات حساب شوی دی.

حافظ ابن قيم، حافظ ابن کثير، حافظ ابن قدامه، او حافظ ابن ذهبی ده مشهور د شاګردان دی، او د دغه ډول علمی شخصيتو نو رو ذ ل اوجامعی ته وړاندی کول ده دعلمی پياورتيا دجو ته ونی په برخه کښې يو څرګند دليل دی.

حافظ ابن کثير په (البدايه والنهايه) کښې ليکلی دی چې شيخ الاسلام ابن تيمية در ۷۲۸ هـ کال د ذی القعدی د مياشتی په (۲۰) نيټه د دوشنبی د شپی سحر مهال يعنی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا صادق د اختلو په وخت په زندان کښې خپله روح خپل خقیقی مالك ته په داسې حال کښې وسپارله چې په زندان کښې یې دوه ځله قرآن کریم آسمانۍ ځله ختم کړی وُ، او په دې آیتونو (اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ جَنّٰتٍ وَّ نَهَرٍ فِيْ مَقْعَدِ صِدْقٍ عِنْدَ مَلِيْكٍ مُّقْتَدِرٍ) ته رسیدلی وُ چې بیا د سورۃ رحمٰن د اول څخه متباقی قرآن مجید دوه مشهور روایتونو: عبدالله بن المجد او عبدالله الزرعی الضریر چې شیخ رحمه الله به د دوی قرأت پیرغوښتلو په همدغه وخت کې ته غسل ورکولو څخه مخکښې ختم کړ.

هغو موجودینو لیکلی دی چې د شیخ ؒ په جنازه کښې (۱۵) زره بنځې او د (۶۰ نه تر ۳۰۰) زره پورې نارینه حاضر وو، او حافظ عمر بن علی البزار لیکلی دی چې د ده د جنازې د حاضرینو څخه یو ټولګی په دې خبره اتفاق لري چې په شیخ باندې د جنازې د لمونځ کونکو تعداد د پنځه سوو زره څخه زیات وُ او تاریخ پوهان وایی چې د احمد بن حنبلؒ د جنازې څخه روسته دا دویمه جنازه وه چې په دومره لوی شمیر کښې لمونځ کونکي پکښې راجمع شوی وُ.

ابن کثیر وایی: د شیخ د مخلصینو دجملې څخه یوکس چې کله په جنازه کښې دومره زیاته کثره کونکه ولیدله نو په اوچت اواز سره یې اوویل: هکذا تکون جنائز

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهل السنة م یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم
د سنتو د پیروانو جنازی همد غسی وی ! .

او د سید المرسلین، خاتم النبیین محمّد صلی الله
علیه وسلم د پیروی پر اساس یی په ژوند کښی هم سړیه
صرف علم ؤ او مړ ک نه یی دوسته هم یوازی علم په
میراث سره پریښود ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم
فرمایی علماء د انبیاؤ وارثان دی، او انبیاؤ درهم او
دینار په میراث سره نه دی پریښی بلکښی هغوی علم
په میراث سره پریښی دی.

الله پاک دی په ده باندی رحمیزی او جنت الفردوس
دی ور له نصیبه وګرځوی. آمین

(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمٰن الرحیم

د څیړونکی سریزه

ان الحمد لله نحمده و نستعینه و نستغفره و نعوذ بالله من شرور انفسنا، و من سیئات اعمالنا من یهده الله فلا مضل له، و من یضلل فلا هادی له و اشهد ان لا اله الا الله وحده لا شریک له و اشهد ان محمدا عبده و رسوله۔

امابعد: د الله تعالیٰ او مخلوق، یعنی د الله پاک او بنده کا نو تر مینځ د واسطې مسئله یقیناً چې ډیره «خطرناکه»

خطرناکه مهمه او درنه موضوع ده خو افسوس چې اکثره مسلمانان ترینه غافل او ناخبره دي۔ او د همدغه غفلت نتیجه ده چې تر دغه اوږه هام پرستي او بې لارې تر توبو نه او د مسلمانانو ذلت، شکست او سپکاوی وینو او کورو یې او دهغه نصرت او تائید څخه د کوم وعده چې الله پاک له مونږ سره د شریعت په پیروئ او په الله تعالیٰ باندې د توکل کولو په صورت کښې کړې وه محروم اوبې برخې یو، الله تعالیٰ په خپل مبارک کتاب قرآن کریم کښې فرمایلې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وَكَانَ حَقّاً عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ. (۱)

«او حق دي په مونږ باندې نصرت د مؤمنانو»

همدارنګه الله تعالی فرمایلي دي:

(إِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ (۲)

که چرې مدد وکړئ تاسې د الله ددین سره نومدد به وکړي الله له تاسې سره اوثابت اوتینګ به کړي قدمونه ستاسو» د غه ډول فرمایي:

(وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهِ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ.) (۳)

او خاص ده لره دي عزت او غلبه او پیغمبر ده لره دی او مؤمنانو لره دی». همدارنګه یې فرمایلي دي

(وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِيْنَ) (۴)

او تاسو غالب یئ که چرې یئ تاسو پوره ایمان والا»

اوس د غه نصرت چیرته دی، د غه عزت چیرته دی، او د مسلمانانو د غه برتري اوغلبه چیرته ده؟!

د حق او خلق یعنی د الله تعالی او بندګانو ترمینځ د واسطې پیژندلو په برخه کښې خلق دري ډلې شوي دي:

(۱) یوه ډله هغه څوک دي چې هغوئ رسول الله صلی الله علیه وسلم د شریعت د تعلیم او بښونې په

(۱) سورة الروم: ۴۷ - (۲) سورة محمد: ۷ - (۳) منافقون: ۸ سورة آل عمران: ۱۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخه کښې د یواځنۍ واسطې په توګه نه منی ۔
د خلقو دغه ډیوې پوچې دعوې په وجه د غه شریعت یواځې دعوامو لپاره خاص کړی، او د علم الظاهر په نوم سره یې مسمی کړې دې، او د خپلو عباداتو په برخه کښې، په هغو اوهامو اوخرافاتو باندې استناد کوي، چې دوی یې علم باطن بولی اود «کشف» په نوم سره یې یاد وی، او په حقیقت کښې هغه بل څه نه دی صرف دسوغ، ابلیسي وسوسې اوشیطانی واسطې دی چې د اسلام د اصولو او بنسټونو څخه مخالفې دی،۔

دوئ د دغه مزخرفې عقیدې د روا جولولو لپاره خپل آوان داسې اوچتوي: (حَدَّثَنِیْ قَلْبِیْ عَنْ رَّبِّیْ)!! یعنی زړه می راته د خپل رب څخه خبر راکړې دې!!

دوئ په دې لړکښې د هغو علماؤ پوره کوم چې د شریعت پیروي، تهوتی اومسخرې کوی او وایی: د دې خپل مړ علم د مړې څخه حاصل کړې دې، او د علم باطن پیروان بدون له کومې واسطې څخه خپل علم د ژوندی او قیوم ذات څخه حاصله وی، دوې د دغه فتنې په وجه د پیرعوام تباه اوبې لارې کړل، اود انحراف، فساد او ضلالت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لوړې روان کړل۔

دوې د پیرو غیرو مشروع امورو کومړۍ د دوې په کتابو نو کښې لیکل شوې دې، مرتکب کړ هُیدلې دې، او دا هغه څه دی چې علمایی دډ دا ستداد، کفر او قتلولو اسباب ګڼی۔

دوې د شریعت د لومړې اصل څخه یا داچې خبر نه دی، او یا داچې په زړه یې هیڅ ځانونه په ناخبرو کښې اچولی دی، ځکه د دغه اصل له مخې هرڅوک چې دالله پاک دهغه قانون او کتاب پرخلاف کوم ړۍ الله تعالیٰ په هیڅ نبی محمّد صلی الله علیه وسلم باندې نازل کړې دې عمل وکړي نو هغه په یقینی توګه کافر دی، او په کفر کښې یې هیڅ شک او شبه نشته ځکه الله تعالیٰ فرمایلی دې:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتّٰى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ط » (۱)

ترجمه: پس نه دا سې، قسم دی ستاپه رب باندې چې نشی مؤمنان کیدای دوې تر هغه پورې چې حاکم کړی تالره یعنی فیصله وکړي په تاباندې

(۱) نساء: ۶۵ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه معامله کښې چې پیدا شوی وی په منځ د دی کښې بیا و نه مومی دوی په خپلو ژوندو کښې خپکان د هغې فیصلې نه چې تاکړی وی، او ویې منی دوی په منلو سره یعنې بې له ځکړې په خوښئ سره۔

د غه راز کله چې شیطان د دوی لپاره خپل اعمال ښایسته وګرځول او د علم او دا رنګه د علم د سره نا د لمنځه وړ لو لپاره یې مقابله پیدا کړه نو نتیجه یې دا شوه چې په ټپو تیار و کښې روان شو او د خپلو او هامو او خیالاتو په جال کښې کیر شو، او بیا د همدغو پوچو او پرسو ده خیالاتو په تیاره کښې د الله تعالیٰ په عبادت باندې بوخت شول۔

دوې په مثال د هغه چا دی چې الله پاک د هغو په هکله په قرآن کریم کښې داسې فرمایلی دی:

قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا ۝ اَلَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا ۝ أُولٰئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيٰتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا (۱)

(۱) کهف: ۱۰۳-۱۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: وا یه آیا خبر د کرم تاسوته په باره د تاوانی عمل والا ژکنبی، دا هغه کسان دی چې بربادی عمل ددوی په ژوند د دنیا کښی، اودی گمان کوی چې یقینا دوی خائسته عمل کوی، دا هغه خلق دی چې کفریی کړې دې په آیاتونو د خپل رب او په ملاقات د هغه نو بربادی عملونه ددوی پس ودبه نه درووړ ددوی لپاره د قیامت په ورځ هیڅ تله بیادغه طائفه خلق په متعدد ډلو باندې ویشل شوی دی چې په بیلا بیلو طریقو باندې روان دی او خُنی یی دځنو نورو سره په جنګ او جګړه باندې اخته او مبتلا دی، اودا په دې خاطر چې دوی د صراط مستقیم څخه کومه چې د منعوم علیهم لارې لری واقع دی، او لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یی په خپل مبارک قول کښی یاد ونه کړې ده، د دغو پټو لسو فرقو او ډلو ځای د جهنم وویل دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایی:

"سَتفترِقُ اُمّتی عَلیٰ ثلاث وسَبعین فرقةً ثِنتَانِ و سبعُون فِی النّارِ، وَوَاحِدَةٌ فِی الجنّةِ وَهِیَ من کان عَلی مثلِ ما انا علیه واصحابی" رواه ابوداؤد، والترمذی، والنسائی وابن ماجة بسند صحیح عن ابی هریرة رض۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

« زردی دی چی امت به می په درې اویا ډلو تقسیم شی چی دوه اویا به یی په اور کښی وی یعنی جهنم ته به ځی او یوه ډله به په جنت کښی وی یعنی جنت ته به ځی، او دغه ډله هغه څوک دی چی په داسی دین، ملت اولاړه دروی کومه چی ځما او ځما د ملګرو (صحابه ؤ) طریقه، لار او دین دی »

دغه حدیث ابو داود، ترمذی، نسائی، او ابن ماجه په سیی سند سره د ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کړی دی -

۳- دویمه ډله د دوی څخه هغه څوک دی چی دغه واسطې په برخه کښی یی د مبالغې نه کار اخستی دی او دهغی غلطی عقیدې په وجه یی د واسطی څخه داسی مفهوم اخستی دی چی هغه هیڅ د واسطی مفهوم او مقصد کیدلی نه شی؛ پس دوی د همدغه غلطئ پربنا د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک ذات او د نورو انبیاوو، او نیکانو خلقو ذوات واسطی نیولی دی او دا عقیده ساتی چی الله تعالی د بندګانو هیڅ عمل نه قبلوی مګر هله یی قبلوی چی په دغو واسطو سره الله ته پناور وړی، او دغه واسطې د دوی لپاره د الله پاک په وړاندې وسیله وګرځی

(تَعَالَىٰ عَمَّا يَقُولُونَ عُلُوًّا كَبِيرًا)

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله منزه اومقدس ذات دی، اود پیرو لویو صفتونو څښتن دی، دوی چې څه وایی هغه دالله دشان سره مناسب نه دی. العیاذُ باللهِ دوی الله تعالیٰ په داسې صفت سره متصف وګرځولو چې حتی هغه ظالم او مستبد یاچایان چې په خپلو دښواز وکښې یې پیره داران او څوکیداران ودرولی وی، اود واسطو والاؤ نه په غیر بل څوك نه شی ورننوتلې هغه به هم په دغوصفتونو سره متصف نه کړې شي.

که واقعیت په نظر کښې ونیول شي نو دغه ډول عقیده ساتل بیخی دالله تعر دکلام سره ضدیت لری ځکه الله پاك فرمایی:

وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیْ عَنِّیْ فَاِنِّیْ قَرِیْبٌ اُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ فَلْیَسْتَجِیْبُوْا لِیْ وَلْیُؤْمِنُوْا بِیْ لَعَلَّهُمْ یَرْشُدُوْنَ ﴿۱﴾

ترجمه: او هرکله چې پوښتنه وکړی له تاڅخه بندګان ځما، له حال زما څخه- نو بیشکه زه نژدې یم، قبلوم دعا د دعاکونکی کوم وخت چې غواړې له ما څخه، پس و دی منی حکمونه زما او ایمان دی راوړی پر ما ریښتین دی وکړی په قبول د دعا سره، ښایی چې دوی په سمه لاره محکم پاتی شی-

(۱) بقره: ۱۸۶ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه مبارک آیت کښې د ښه کوتنه ښکاره شوې ده چې الله تعالیٰ ته د رسیدو لپاره یوا ځنې واسطه په الله تعالیٰ باندې قوي او سیمې ایمان لرل دي او بیا په مشروع طریقه باندې د الله پاک عبادت کول دي۔

د دغه راز په دې مبارک آیت کښې عبادت دایمان څخه مخکښې ذکر شوی دی، او دا ښه ځکه چې خلق د ښه متوجې شي چې عمل صالح یعنې نیک عمل پیر ې نیات اړ ښت او اهمیت لري او د الله تعالیٰ د رضا حاصلولو اوجنت ته د تللو لپاره یو ضروري شرط دي او الله تعالیٰ چې په قرآن کریم کښې دکومې وسیلې ذکر کړې دي د هغې څخه هُم مقصد طاعات او نیک عملونه دي، او د اهغه یوا ځنې واسطه ده چې تا الله پاک ته نژدې کوي، او د الله تعالیٰ د رحمت د رواژې ډیر پرانزی اوجنت ته دي د ننه باسي الله تعالیٰ فرمایلي دي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ وَجَاهِدُوا فِي سَبِيلِهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴾ (۱)

ترجمه: اې ایمان والاؤ! وویریږئ د الله تعالیٰ نه او ولټوئ خاص الله تعالیٰ ته نژدې والې په

(۱) مائده: ۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

طاعت سره، اوجهاد و کړئ په لار د الله تعالی کښی د دې لپاره چې کامیاب شئ یعنی مراد ته ورسیږی۔

الله پاک د هغه جهالو او ناهښرو خلقو د سپکاوی او سپورتیا په برخه کښی چې د الله تعالی نیک بندګان یی، وسیله نیولی دی داسی فرمایلی دی:

﴿اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ الْوَسِيْلَةَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُوْرًا﴾ (۱)

ترجمه: هغه کسان چې دوی یی عبادت کوی «د مدد شه ورته وایی» په خپله هغوی خپل رب ته نژدې والې لټوی چې کوم یو به له دوی نه ډیر نژدې وی (الله ته)، او امید لری دوی د رحمت د هغه (الله) او ویریږی د عذاب د هغه نه یقیناً ستا رب له عذابه ویره کیدائ شی۔

په دغه مبارک آیت کښی را هښره په دې اګه شوی ده چې نیک اعمال الله تعالی ته د تقرب حاصلولو یواځنۍ لاره ده، او د سینه پرته بله کوم لاره الله پاک ته د نژدې کیدو لپاره وجود نلری او هغه نیک بندګان چې دوی وسیله نیولی دی

(۱) الاسراء: ۵۷۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوي په خپله د خپل ځان لپاره د نفع و سیلې ته احتیاج او اړتیا لري .

د غه ناپوهه خلق په دې خاطر چې ستومانه نشي د دغو واسطو په ذوات تو باندې اتکا کوي او د خپلې غلطې او تیروتنې پر وجه نه نیک اعمال ترسره کوي او نه د هرا مو څخه ځانونه ساتي .

د مسلمانانو د خطا کیدو او انحراف لویه وجه داده چې دوئ د الله تعالیٰ هغه مبارک قول چې په هغې کښې یې د آدم علیه السلام د ټول اولاد سردار جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په خطاب کولو کښې فرمایلي دي :

(قُلْ لَآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا (۱)

هیر کړي دي یا تر ینه هیر شوي دي ، حکه په دغه آیت کښې الله پاک فرمائي :

پیغمبره ! دوئ ته او وایه چې زه د خپل ځان لپاره نه د کتې رسولو مالک یم ، او نه د ضرر د دفع کولو مالک یم .

د غه راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه قول چې خپلې ګرانې لور فاطمې رضی الله عنها ته یې پکښې فرمایلي دي : ای فاطمې ! د خپل ځان د نجات لپاره عمل

(۱) اعراف : ۱۸۸ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه ځکه چې زه تاد الله تعالی د عذاب څخه نشم خلاص
وی. (۱)

دغه ډول د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه
قول چې فرمایی. کله چې انسان مړشی نو دهغه عمل
قطع شی مګر د دری څیزد نو ثواب ورته رسیږی
چې هغه صدقه جاریه ده، علم نافع دی اوولد صالح
دی چې دعاورته کوی.

دغه حدیث چې معنایی ذکرشوه مسلم روایت کړی دی
په دې باره کښې د عمر رضی الله عنه له پلوه د عباس
رضی الله عنه په دعا سره و سیله نیول، او د رسول
الله صلی الله علیه وسلم مبارک ذات وسیله نه نیول
یودا سې قناعت بخښ دلیل دې چې حتی که په نصوص
کښې دانبیاؤ او صالحینو په ذواتو باندې د وسیلې
نیولو څخه منع هم نه وی راغلې، نود دغه طائفې
درد لپاره همدغه کافی ؤ.

دغه ډول د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه
یو دیر ارزښتناك قول د مختار اودا حنفی بعضو
نورو کتابونو په دې برخه کښې داسې نقل کړې
دی: «وَاکْرَهُ اَنْ یَسْاَلَ اللّٰهَ اِلَّا بِاللّٰهِ» دی وایی
زه دا خبره بده ګڼم چې د الله تعالی څخه پرته په

(۱) دغه حدیث چې معنائی ذکرشوه بخاری روایت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل څه باندې د الله نه سوال شی۔
همدارنګه که الله پاک ته د ذکر شو یو ذوات تو ذوات واسطه نیول جائز وای نو خامخا به یې ذکر په هغو دعاګانو کښې راغلې وای چې په قرآن کریم او احادیثو کښې موجودې دی۔
هو: کله چې د یو مسلمان سره د شوق پیدا شی چې الله پاک ته په وسطو سره ځان نژدې کړې نو کولې شی چې د الله پاک څخه د الله په ذات یا د هغه اعمالو د جملې څخه په یو عمل یا د الله تعالیٰ د نومونو څخه په یو نوم، او یا د ده د صفتونو څخه په یو صفت باندې سوال وکړې۔
(۳)۔ د مسلمانانو څخه ځنی داسې کسان دی چې هغوې د الله او بندګانو ترمنځ د غه واسطه یو رسالت ګڼی چې بیا د غه رسالت د تبلیغ، تعلیم او تربیې څخه عبارت بولی، د غه پول دوې د د غه رسالت اهمیت، او ورته د بشری ټولنې د ضرورت او اړتیا اندازه هم درک کړې ده، او همدا وجه ده چې دوئ په پیروۍ چلتئ سره محمّد رسُول الله صلی الله علیه وسلم ته یعنی د رسول الله صلعم شریعت ته ور د روهې ترڅو د وهې په رڼا کښې د ده په دین باندې د ځان پوهه ولو په برخه کښې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

(رسول الله صلی الله علیه وسلم) یوه ستره واسطه او عظیمه وسیله ونیسی. پس دوی له همدې امله د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت او سنت لپسې لولی لکه څنګه چې قرآن کریم لولی او شعاریی په دې برخه کښی د الله پاک دغه مبارک فرمان دی :

قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ يَّهْدِيْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِهٖ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ (۱)

ترجمه: یقیناراغلی تاسو ته د الله له طرفه نور (رښتیا یعنی محمد صلی الله علیه وسلم) او کتاب واضح بیان والا چې بنو یې او هدایت کوی په هریوه له هغې سره الله تعالی هغه چاته چې تابعداری کوی د رضا دده په طرف د لارو د سلامتیا، او اُو باسي دوی له تیارو (د کفر، شک، جهل، څخه نور (رښتیا ایمان، یقین، علم) ته په حکم خپل سره، او هدایت ښودنه، کوی دوی ته په طرف د لارې سمې صافې (د توحید).

د غه وله هماغه تاجیه فرقه ده چې په وړاندې ذکر شوی، حدیث کښی ور ته ګوته نیول شوې ده

(۱) مائده : ۱۵ : ۱۶ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د جنت زیری ورته ورکړل شوی دی ۔

اما متأسفانه د دغه فرقې ډلې، لاره ډیره زیاته سخته او ازغنه، یعنی د مشکلاتو او کړاوو نوښته پکه لاګ ده، هګه حقیقی اسلام غریب او ناشناګرځیدلی دی، او اکثرو مسلمانانو ورته شاوخوا پرېښې دی او هانونه یې ورته په لرې مسافه کښې ښوولې دی، او د واقعی اسلام په بدل کښې یې بدعات او خرافات معمول او مروج ګرځولی دی ۔

د دغه مصیبت او فتنه د پیرې پخوانۍ زمانې څخه را په دې خوا جریان لري او مصلحینو په کښې د اصلاح لپاره په ډیر تکلیف سره خپل رول لوبولی دی۔ عمر بن عبدالعزیز رضی اللہ عنه د دوئ د جملې څخه په دې هکله داسې ویلې دي:

مونږ د یو داسې کار د اصلاح لپاره کار شروع کړی دی چې د اللہ پاک نه پرته بل څوک په دغه لاره کښې مرسته نشي کولې، دا داسې یوه لاره ده چې د سپین زیرو او مشرانو ژوند پکښې پای مومي، او واړه او صغیر هلکان پکښې ځوانۍ ته رسیږي، دې وایي: یو اطرافي او باندنۍ چې به، یو ناوړه او ناروا عمل ترسره کوی او داګمان به ورباندې کوی چې دا دین دی او حال دا چې هغه به د اللہ (ج) په نزد

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې دین نه وی۔»

دا اسلام او مسلمانانو د دغه ډول حال په باره کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوحدیث مفهوم واسې دی:

دا اسلام منونکی لکه څرنګه چې په ابتداء کښې غرباء او کمزوری ؤ، دارنګه په آخره کښې به هم غرباؤ ته پاتې وی پس نیک مرغه او مبارک دی وی حال د غریبانو۔

د غو غرباؤته رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل مبارک قول کښې دجنت زیرې په دی ډول سره ورکړی دی:

«سَتَفْتَرِقُ أُمَّتِي عَلَى ثَلٰثٍ وَسَبْعِينَ فِرْقَةً اِثْنَتَانِ وَسَبْعُونَ فِي النَّارِ، وَوَاحِدَةٌ فِي الْجَنَّةِ وَهِيَ: مَنْ كَانَ عَلَى مِثْلِ مَا أَنَا عَلَيْهِ وَأَصْحَابِي»

دغه ناجیه فرقه «د الله پاک د عذاب څخه نجات مندونکی ډله» یقیناهغه څوک دی چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم دا حادیثو پیروی، الله پاک دی ورله مړی مرحوم وګرځوی او د ژوندو په ژوند کښې دی ورله برکت واچوی او د خپل قوت او طاقت په ذریعه دی ورسره مدد او مرسته وکړی څکه همدوی دی چې د هدایت او لاس بنونې ستوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مشالونه دی، اود تقوی او سمی لاری په لو ر
بلو نکی اوداعیان دی، چاچې د دوئ سره دښمنی
کړې ده نوهغوی هلاک شوی دی، اوچاچې دوی
پیروی پرینې ده نوهغوئ کمراه شوی دی، ددوی
دعوت بالکل علمی او بشکاره دی، اود حق په لاره
کښی د ملامت شویو د ملامتیا څخه نه وېرېږی
اوس نوره خبره شیخ الاسلام ابن تیمیه رح، ته
پریږدو چې دغه واسطه په څپله ارزښت ناکه
رساله (الواسطة بین الحق والخلق) کښی تشریح او
روښانه کړی۔

دارساله د دې وړه چې په طلاؤ یعنی په
سرو زرو سره د لیکل شی او مسلمانان یې په پوره
سوچ او فکر سره د لولی تر څو د غفلت د خوب څخه
راښیدار شی او د نصرت، قوت او سرلوړی په لوری
کامونه اوچت کاندې او د انبیاوو او نورو نیکانو
بندګانو قبرو نوته ټیټې د ل او پرې وتل، او په
عاجزئ، ذلت او سرښکته کولو سره یې د د دبارو نو
د د رواز و مسح کول او بشکول پریږدی۔

وصلی الله علی سیدنا محمّد معلم الخیر، وعلی آله
وصحبه وسلم۔

محمود مهدی الاستانبولی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

(قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى آللّٰهُ خَيْرٌ اَمَّا يُشْرِكُوْنَ) (۱) اَمَّا بعد:

دغه رساله د هغو د وُو کسانو د بحث په باره کښې د پرې کړې په غرض لیکل شوې ده کوموچې یو یل سره په هغل منځ کښې مباحثه درلوده، او یو کس د دغو دواړو څخه وویل:

د الله پاك او زمونږ ترمنځ خامخا یوې واسطې ته ضرورت دی، هُکه مونږ د دغه واسطې څخه پرته الله پاك ته د تقرب اورسیدو توان اووس نه لرو.

د الله (ج) او بندګانو ترمنځ د واسطې معنی

الحمد لله رب العلمین. ثنا او ستاینه یواځې الله لره ده چې رب د مخلوقاتو دی. که د دې خبرې مقصد داوی چې مونږ ته د الله تعالی د حکم په راسولو کښې حتما یوې واسطې ته ضرورت دی

(۱) سورة نمل (۵۹) ترجمه: ووایه ای محمده! چې ټولې ثناګانې او ستاینې خاص الله لره دي او سلام دی په هغه بندګانو وده چې غوره کړې دی الله آیا الله غوره دی یا هغه څه چې شریکوی یې دوی د الله سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دا یوه پر ځای او حقه خبره ده ، څکه مخلوق په دې نه پوهیږی چې الله پاک دکوم شی سره مینه لري ، په کوم باندې خو ښیږی ، دکوم عمل په تر سره کولو باندې یې امر کړی دی ، او دکوم شی دکولو څخه یې منع کړی ده ، او دغه راز دخپلو دوستانو لپاره یې څه ډول درجې او نعمتونه تیار کړی دی ، او دخپلو دښمنانو لپاره یې دکوم کار په کولو سره د عذاب ورکولو وعده کړی ده ، او دا رنګه هغه عذابونه په څه ډول او څنګه دی -

دغه ډول مخلوق ته د الله تعالی د اسماؤ حسنیٰ (ښکلو نومونو) او عالیه صفاتو د پیژندلو په برخه کښې چې عقل د هغود معرفت څخه عاجز دی ، معلومات نه ؤ ، دغه راز د دې نور امثال دي چې اګاهي حاصلول ور باندې د انبیاؤ علیهم السلام پودې کوم چې الله جل جلا له خپلو بندګانو ته راليږلی دی ارتباط او اړتیا لري -

پس هغه کسان چې د پیغمبرانو پیرو او وس باندې ایمان لرونکی دی هم دوئ هدایت مندونکی او - هغه کسان دی چې د الله پاک پرنږد باندې د درنښت او قرب مقام لري او په دنیا او اخرة کښې د اوچتو درجو او عزت خاوندان دی -

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَمّا هغه څوک چې د انبیاؤ مخالفین دی هغوی په یقینی توګه لعنتیان دی او په دنیا او آخرت کښې دځپل پرور دګار د هدایت څخه محروم او بې برخې دی

چاچې قرآن ولوستلو او عمل یې ورباندې وکړ نه به ګمراه شی اونه به بدبخت شی

په دې برخه کښې رب العزت داسې فرمایلې دي :

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ اِمَّا يَاْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ فَمَنِ اتَّقٰى وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۔ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۔ (۱)

ترجمه: اې اولاد د آدم علیه السلام که راغلو تاسوته پیغمبران ستاسې له جنس نه چې بیانه وی په تاسو باندې آیتونه زمونږ نو هر هغه کس چې ځان یې وساتلو د بد وکارونو نه اوځپل عمل یې اصلاح کړو نو نه به وی هیڅ ویره په دوی او نه به دوی غمژن کیږی ۔

او هغه کسان چې زمونږ آیتونو تې نسبت د درو غو

(۱) اعراف : ۳۵، ۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړو او سرکشی یې وکړه د قیلولو دهغې نه هم دغه کسان اوسیدونکی داور (یعنی دوزخ) دی، دوئ په دغه اوږکښې همیشه وی۔

همدغه پرول الله تعالیٰ فرمایی:

(فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَىٰ، وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَىٰ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِي أَعْمَىٰ وَقَدْ كُنْتُ بَصِيرًا، قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا وَكَذَٰلِكَ الْيَوْمَ تُنْسَىٰ)(۱)

ترجمه: پس که راغی زماله طرفه تاسوته هدایت نوهر چاچی متابعت وکړو دهدایت هُما پس نه به ډډ کمراه کیږی (په دنیاکی)، او نه به بد بخت شی (په آخرت کښی)، او هر چاچی زماله یاده مخ وګرځوا وه، پس بیشکه ده ته دی ګران (ژوندون) تنګ او پورته به کړو مونږ دلره په ورځ د قیامت کښی راوند، و به وایی (دغه راوندکافر) ای ربه هُما ولې دي پاڅولم زه راوند حال داچی زه بینا وم (په دنیاکښی)، و به وایی دغه شان راغلی ؤ تاته آیاتونه هُمونږ پس هیرکړی ؤ تا هغه، او هم دغه شان به تن ورځ ته هم هیرکړی شی

(۱) طه: ۱۲۳-۱۲۶-

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه پول د دوزخیانو د حال بیانولو

په لړ کښې الله تعالیٰ داسې فرمایلی دی:

(كُلَّمَآ أُلْقِيَ فِيهَا فَوْجٌ سَأَلَهُمْ خَزَنَتُهَآ أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَذِيرٌ، قَالُوا بَلَىٰ قَدْ جَآءَنَا نَذِيرٌ فَكَذَّبْنَا وَقُلْنَا مَا نَزَّلَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ كَبِيرٍ۔ (۱)

ترجمه: هر کله چې وغورځولی شی دوزخ ته یوه ډله (د منکرانو) نو پوښتنه به وکړی له هغوی نه څوکیداران (پیره داران) د دوزخ، آیا نه ؤ راغلی تاسو ته (ای منکرانو) ویروونکی (پیغمبر په دنیا کښې) نو وبه وایی (منکران) هو په تحقیق راغلی ؤ موږ ته ویروونکی خو درواغژن وبالله موږ دی او وویلی موږ: (هغوی ته چې) نه دی رالیږلی الله هیڅ شی نه یئ تاسی مګر په ګمراهی لوی یه کښې.

دَغه رَسول الله تَعَالیٰ فَرمَایلی دی:

(وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُوهَا فُتِحَتْ أَبْوَٰبُهَا وَقَالَ لَهُمْ

(۱) سورة ملك: ۸، ۹۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

خَزَنَتُهَآ اَلَمْ يَأْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَتْلُونَ
عَلَيْكُمْ اٰيٰتِ رَبِّكُمْ وَيُنذِرُونَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ
هٰذَا ۭ قَالُوْا بَلٰى وَلٰكِنْ حَقَّتْ كَلِمَةُ الْعَذَابِ
عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ۔ (۱)

ترجمه: روان به کړی شي کافران ډله ډله وهلوسره جهنم ته ولی چې ترهغه وخته پورې چې راشي دوئ دوزخ ته، نو پرانه نسته شي دروازې دهغې او به وایی دوی ته محافظان (څوکیداران) دد غه دوزخ آیا نه ؤ راغلی تاسی ته رسولان ستاسی دجنس نه چې لوستل به دغه رسولا نو پر تاسی آیتو نه د قرآن درب ستاسی، او ویره ول به دوی تاسی لره له ملاقات د غه ورځې ستاسی نه، ؤ به وایی دوی (کفار) ولی نه راغلی ؤ مونږ ته او لوستلی یی ؤ مونږ ته، لیکن ثابت شو حکم د عذاب پر کافرانو۔

ابن عباس رضی الله عنهما د قرآن کریم د معمول کړ ځولو په برخه کښی داسی ویلې دی:

چاچې قرآن ولوستلو او هغه څه چې په قرآن کریم کښی دی په هغې یې عمل وکړ نو الله پاک یې متکفل دی نه به په دنیا کښی ګمراه اوبې لارې شی اونه به په اخرت کښی بد بخت بدمرغه

(۱) سورة الزمر: ۷۱ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ رسولان د الله او بندګانو ترمنځ د احکامو رسولو په برخه کښې واسطې دی ۔

الله جل جلاله په خپل مبارک کتاب قرآن کریم کښې فرمایلی دی

﴿ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ فَمَنْ اٰمَنَ وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۔ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ۔ (۱) ﴾

ترجمه: او نه لیږو مونږ رسولان مګر زیری کونکی (مؤمنانو ته په نعیم سره)، او ویره وونکی (کفارو ته له جحیم څخه)، پس هر چاچې ایمان راوړ او اصلاح یې کړه (عمل په طاعت سره)، نو نه به وی هیڅ قسم ویره پردوی باندې او نه به دوی حفه کیږی، او هغه کسان چې دوی نسبت د دروغو کوی آیتونو زمونږ نه وبه رسیږی دوی ته عذاب په سبب دهغې چې دوی فاسقان وو۔

هم دغه ډول الله تعالیٰ د قرآن کریم په بل ځای کښې فرمایلی دی :

﴿ اِنَّا اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ كَمَآ اَوْحَيْنَآ اِلٰى نُوْحٍ وَّالنَّبِيّٖنَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَوْحَيْنَآ اِلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَاِسْمٰعِيْلَ

(۱) د انعام سورة : ۴۸ او ۴۹ نمبر آیتونه ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَاِسْحٰقَ وَ يَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ وَ عِيْسٰى وَ
اَيُّوْبَ وَ يُوْنُسَ وَهٰرُوْنَ وَسُلَيْمٰنَ وَاٰتَيْنَا
دَاوٗدَ زَبُوْرًا وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ
مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ
وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا ۝ رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ
وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ
حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ ۔(۱)

ترجمه: بیشکه چې مونږ وحی کړې ده تاته لکه څنګه چې وحی کړې وه مونږ نوح علیه السلام ته او نورو انبیاؤ ته پس له هغه نه، او وحی کړې وه، مونږ ابراهیمؑ ته او اسمٰعیلؑ ته او اسحٰقؑ ته اویعقوبؑ ته، او اولاد هغوئ او عیسیٰؑ ته او ایوبؑ ته اویونسؑ ته او هارونؑ او سلیمان ؑ ته، او ورکړی وُو مونږ داودؑ ته زبور، او وحی کړی وه مونږ پیرو رسولانو ته چې بیان کړی دی مونږ د هغوی تاته مخکښی لدینه او نورو پیرو رسولانو ته چې هغوئ مونږ نه دی بیان کړی تاته او خبرې کړی دی الله تعالیٰ د موسیٰؑ سره خبری کول او لیږلی مودی رسولان زیری ورکوونکی او ویره ورکوونکی د دې لپاره چې نه وی خلکو لره په الله باندې دلیل او بهانه پس د لیګلو رسولانونه-

(۱) سورة النساء: ۱۶۳ - ۱۶۵ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم دا د ټولو مسلمانانو عقیده ده

هم دا د ټولو مسلمانانو عقیده ده چې الله تعالی فرمایي:
«اَللّٰهُ یَصْطَفِیْ مِنَ الْمَلٰٓئِکَةِ رُسُلًا وَّمِنَ النَّاسِ» (۱)

ترجمه: الله غوره کوي رالیږلي شوي له فرښتو او له خلکونه.

او دا د دغه ټولو ملتونو د پیروانو لخوا مسلمانان، یهودیان او نصرانیان شول، په اتفاقي توګه یو منلي شوی حقیقت دی، ځکه دوئ کړد د الله او پیغمبرانو ترمنځ د الله له طرفه د حکم او خبرو سولو په برخه کښې د واسطو په ثبوت باندې چې هغه واسطې د انبیاؤ علیهم السلام څخه عبارت دی قائل دي.

پس د دغه واسطو څخه چې څوک منکرشی هغه د دغه ټولو ملتونو او ادیانو د پیروانو په نزد په اتفاق سره کافر دی.

هغه سورتونه چې الله پاک په مکه مکرمه کښې نازل کړي دي، لکه سورة انعام، اعراف، او د الر، او حمٓ، او طس، والا سورتونه، او دی په شان نور سورتونو شو، په دغو کښې د هغه مضامینو بیان دی کوم چې د دین اصول او بنسټونه دی لکه

(۱) سورة حج: ۷۵ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

په الله او رسول نو د الله او په ورځ د آخرت باندې ایمان لرل شو -

الله تعالی د خپلو پیغمبرانو سره د نصرت او کومک کولو ژمنه کړې او د غه راز یې د کافرانو د هلاکت د څرنګوالی قیصې چې پیغمبران یې د روغ ژن کهلی وو بیان کړی دی او فرمایلي دی :

(وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ - إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُورُونَ - وَإِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ) (۱)

ترجمه: او بیشکه مخکښې صادره شوې ده وعده زمونږ د پاره د رالیږلیو شویو بندګانو زمونږ، چې بیشکه پیغمبران هم دوئ ته به مدد ورکولی شي، او بیشکه لښکري زمونږ خامخا هم دوی غالبه (بریالی) دی (پکاوړ)

هم د غه ډول الله تعالیٰ فرمایلي دي:

(إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ) (۲)

ترجمه: بیشکه چې مونږ خامخا مدد کوو له خپلو رسولو سره او مدد کوله، هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی په ژوند د دنیا کښې او په هغه ورځ چې قائم به شي (ویه دریږي) شاهدان (له ملائکو، انبیاؤ، او مؤمنانو

---

(۱) سورة صٰفّٰت: ۱۷۱-۱۷۳ - (۲) سورة مؤمن ۵۱ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر منکرانو باندی۔

او پیغمبران هغه پرول واسطی دی چی د دوی اطاعت، پیروی او تابعداری حتمی او ضروری ده لکه چی الله تعالیٰ فرمایلی دی:

(وَمَا اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ) (۱)

ترجمه: او مونږ نه دی لیږلی هیڅ رسول مګر دلیکلی موډی، د دې لپاره چی د ده حکم دې او منلی شی د الله په حکم سره۔

او هم دارنګه الله تعالیٰ فرمایلی دی:

(قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ) (۲)

ترجمه: وو وایه ای محمده! دوی ته، که چیرې یئ تاسی چی محبت کوئ له الله سره نو ما تابعداری وکړي، نو محبت به وکړي الله پاک له تاسو سره۔

هم دغه پرول الله تعالیٰ فرمایلی دی:

(فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ الَّذِيْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗٓ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ) (۳)

---

(۱) نساء: ۶۴۔ (۲) آل عمران: ۳۱۔ (۳) اعراف: ۱۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: پس هغه کسان چې ایمان یې راوړې په ده (محمد) او تعظیم یې وکړو ده او مدد یې وکړه ردۀ او پیروی یې وکړه د هغه نور (رڼا) چې نازل کړی شوی ده ده سره، دغه ستاینې شوی کسان هم دوی خلاصی مونده و نکی دی۔

او د قرآن کریم په بل آیت کښې الله تعالیٰ فرمایلی دی

(لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا) (۱)

ترجمه: بیشکه د ه تاسو لره په (کارد) رسول الله کښې پیروی نیکه د هغه چاله پاره چې امید لری د ثواب الله او امید لری د ثواب او نعمتونو د روستنۍ ورځې (قیامت) او یاد وی الله لره ډیر۔

غیر مشروع واسطه

که د واسطې څخه یې مقصد داوی چې د بنده له پاره حتما داسې واسطې ته ضرورت دی چې ورله په جلب منافع کښې او دفع د اضرارو کښې واسطه او مرستندوی وګرځی او بنده د غه واسطې ته د مثال په توګه د روزې نه نصوت

(۱) سورۀ احزاب: ۲۱۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هدایت غوښتلو په برخه کښې رجوع کونکی او دسی او دحاجت سرکولو په امید تریته دخپلوحاجتو نو د پوره کولو سوال وکړی، نو دا هغه عظیم او خطرناک قسم شرک دی چې الله پاک د هم د غه شرک په اساس مشرکان کافران بللی دی حکه چې دوی او الله تعالیٰ نه په غیر بل څوک متصرفین او سفارشیان نیولی وُ او هغوی یې د نفع او نقصان، مالکان ګڼل، او حال داچې سفارش د الله تعالیٰ د اذن او اجازې پورې اړه لري، الله پاک په دی باره کښې داسې فرمایلی دی:

(اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَمَا بَیْنَهُمَا فِیْ سِتَّةِ اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ مَا لَكُمْ مِنْ دُوْنِهٖ مِنْ وَّلِیٍّ وَّلَا شَفِیْعٍ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ) (۱)

ترجمه: الله هغه ذات دی چې پیدا یې کړل اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې په منځ د د ی دواړو کښې دی په شپږو ورځو کښې بیا استوی وکړه ده په عرش باندې نشته دی تاسو لره بې له ده نه بل څوک دوست او سفارش کونکی، ایا پند نه قبلوئ تاسو؟

دا رنګه الله تعالیٰ فرمایلی دی:

---

(۱) سورة السجدة: ۴ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿ وَأَنْذِرْ بِهِ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْ يُحْشَرُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ لَيْسَ لَهُمْ مِنْ دُونِهِ وَلِيٌّ وَلَا شَفِيعٌ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴾ (۱)

ترجمه: او ویره وه په دې قرآن سره هغو کسانو لره چې ویریږي له دې نه چې جمع به کړې شي دوی خپل پروردګار ته، نه به وي دوی لره سوا د الله نه نور نه دوست، نه کونکی او نه سفارشی (شفاعت کونکی) دوی له پاره چې دوی پرهیزګاری وکړي.

فرښتو او انبیاؤ سره د تکلیف لرې کولو واک نشته.

په دې هکله الله تعالی فرمایي:

﴿ قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِهِ فَلَا يَمْلِكُونَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيلًا أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا ﴾ (۲)

ترجمه: وویا یه (ای محمده! دوینه) چې (د بلې تاسو هغه کسان چې تاسو ورباندې سوا د الله نه مدد ګمارلو ګمان کوئ پس هغوی اختیار نه لري د تکلیف لرې

---

(۱) انعام: ۵۱ - (۲) الاسراء: ۵۶، ۵۷ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو تاسونه، او نه داسانه ولواو بدله ولو اختیار لری. هغه کسان چی د وی یی عبادت کوی (رامد د شه ورته وایی) په خپله هغوی خپل رب ته نزدې والی لټوی چی کوم یو به له دوی نه ډیر نژدی وی (الله ته)، او امید لری دوی د رحمت د هغه (الله) او ویریږی د عذاب د هغه نه یقیناً ستاد رب له عذابه ویره کیدلای شی

هم د غه راز الله تعالیٰ فرمایلی دی:

(قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَ لَا فِي الْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَمَا لَهُ مِنْهُمْ مِنْ ظَهِيرٍ، وَلَا تَنْفَعُ الشَّفَاعَةُ عِنْدَهُ إِلَّا لِمَنْ أَذِنَ لَهُ) الآیه - (۱)

ترجمه: د دا یه (د ویته ای محمده!) د بولئ تاسو هغه معبودان چی گمان به کاوه تاسو (په دوی باندې د آلهه ؤ) په غیر د الله نه چی د وی اختیار نه لری د یوی ذری په اندازه، نه په اسمانونو کښی او نه په ځمکه کښی او نشته دی هیڅ حصه او شراکت د دوی د غو معبودانو لره په آسمان او ځمکه کښی (پورته او ښکته) او نشته دی د غه الله لره د دوی نه هیڅوک

(۱) سورة سبا: ۲۲، ۲۳ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

مددګار، اوګڼه نه رسوی شفاعت او سفارښت په نزد د الله، مګر شفاعت د هغه چا چې اجازه ورکړي الله هغه ته، یا د هغه چا لپاره چې د هغه په حق کښې د شفاعت کولو اجازت وشي.

د سلفو یوې ډلې ویلی دی: ځُنې قومونه ووچې هغوئ په دغلو حاجتونو د سرکولو له پاره عیسی علیه السلام او عزیر علیه السلام او فرښتې بللی، نو الله پاک دوی ته د دې حقیقت څرګنده ونه وکړه چې فرښتې او انبیاء نه د دوی نه د تکلیف لرې کولو واک لري، او نه د دوی ته د تکلیف د بدله ولو اختیار لري، بلکښې هغوی په خپله الله پاک ته د نژدې کیدو او تقرب هڅه کوی او د الله تعالی د رحمت حاصله ولو په امید دی، او د هغه د عذاب نه په ویره کښې دی.

په الوهیت سره د فرښتو او انبیاؤ نیول کفر دی، الله تعالی فرمایلی دی: -

(مَا كَانَ لِبَشَرٍ اَنْ يُّؤْتِيَهُ اللّٰهُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُوْلَ لِلنَّاسِ كُوْنُوْا عِبَادًا لِّيْ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلٰكِنْ كُوْنُوْا رَبّٰنِيّٖنَ بِمَا كُنْتُمْ تُعَلِّمُوْنَ الْكِتٰبَ وَبِمَا كُنْتُمْ تَدْرُسُوْنَ، وَلَا يَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰٓئِكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَيَاْمُرُكُمْ بِالْكُفْرِ بَعْدَاِذْ اَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ (۱)

ترجمه: مناسب نه دی هیڅ بشر لره چې و ډکړی الله پاڼ هغه ته کتاب او پوهه په دین او پیغمبری او بیا و وایي خلقو ته چې تاسی زما بندګان (عبادت کونکی) شئ بې له الله څخه، لیکن (داسی کس وایئ) شئ تاسو الله والا خلق (عالمان عاملان)، په سبب د دی چې بنسودنه کوئ د الله د کتاب، او په سبب د دې چې تاسو زده کوئ کتاب، او امر نه کوی تاسو ته (پیغمبر) چې و نیسئ تاسو پر بتی او پیغمبران حقداد بندګی، آیا حکم به کوی تاسو ته په کفر سره پس له هغې چې تاسی مسلمانان شوی یئ۔

الله پاڼ پټی مبارکو آیتونو کښی داخبره روښانه کړه ملائکی او انبیاء د بندګئ او عبادت حقدار ګڼل کفر دی پس څوک چې پر بتی او پیغمبران په داسی توګه واسطې نیسي چې د مصیبتونو د لرې کولو په وخت کښی ورته د رامد شه آوازونه کوی، په دې باندې کوی (ما فوق الاسباب تر بینه)، د ګټو د لاسته راوړلو او ضرر د فع کولو غوښتنه کوی، له دو یښه ګناه د مغفرت، د زړه له پاره د هدایت، او د غه راز د مشکلاتو د حل او د روزی د پراخ والې په برخه کښی

(۱) سُورة آل عمران: ۷۹، ۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال کوی نو د غه شخص د ټولو مسلمانانو په اتفاق سره کافر ګڼل کیږی. (۱)

علماء د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوامت ترمنځ یوا ځی د اسلام د تبلیغ په ساحه کښی واسطې دی.

کله څوک د انبیاؤ نه روسته دینی عالمان د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اوده امت ترمنځ په دې شان د واسطو په توګه قبلوی چی عالمان د وینه دین رسوی، په دین یې پوهه وی، ادب ورته ورښای

(۱) کله چی پرښتو او انبیاؤ په حق کښی دا عقیده ساتل چی دوی د عبادت حقدار دی کفر بلل کیږی، نو بیا د هغو کسانو د کفر په برخه کښی څه سوال پیدا کیږی چی هغوی د رسول نه په غیر په مخلوق کښی نور کسان او کائنی بوتی او داسې نور شیان د الله تعالی سره د الله په صفاتو کښی شریک او د عبادت مستحق بولی - او چی کله پیغمبران د اسبابو نه پرته او ملائکی د الله د حکم او د رکړی شوی صلاحیت څخه سوا د خیر او شر رسولو په برخه کښی د ځان او بل له پاره اختیار نه لری او د الله په حضور کښی خپلې بې وسئ څرګندوی او د عبادت نه یې سر غړونه د ځان لپاره جرم ګڼی نو بل به څوک وی چی هغه به د الله پاک په صفاتو کښی الله سره برخه وال وی او یا به د اختیار خاوند وی، په قرآن کریم په دې اړه ډیر ښه ډیر آیتونه وجود لری - (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مقتدیٰ په صفت د هغوی د خبرو پیروی کیږی، نو دا خبره یې درسته او پرځای ده ځکه دغه کسان (دینی علو پوهان) چې کله په یوه مسئله باندې را جمع شی او اتفاق وکړی، نو اجماع یې په قطعی او یقینی توګه حجت ده ځکه چې دوی ټول په اجتماعی ډول سره په ضلالت باندې نه عوندیږی۔

او که چرته دوئ تر منځ په کوم شی کښې اختلاف ولیدل شی نو حکم یې د الله تعالیٰ په کتاب (قرآن مجید) کښې او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کښې لټول پکار دی چې هغې ته یې را جمع کړی ځکه چې یوې یواځې ځان په مطلق ډول سره معصوم نه دی بلکښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پرته نور په ټولو خلقو کښې د هر کس د کلام یعنی خبرو یوه برخه یې د منلو وړ یې، منل کیږی او یوه برخه یې د منلو وړ نه وی، پریښو دل کیږی۔

د علماؤ د مقام په هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«العلماء ورثة الانبیاء، فان الانبیاء لم یورثوا دینارا ولا درهما وانما ورثوا العلم فمن اخذه فقد اخذ بحظ وافر» جزء من حدیث رواه ابوداؤد والترمذی بسند صحیح۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: علماء د پیغمبرانو وارثان دی او شك نشته چې پیغمبرانو دځانه روسته دینار اودرهم په میراث سره نه دی پریښودی بلکښې هغوئ په یقینی ډول سره پریښی دی نوچاچې دغه علم واخست اوزده یې نو ډیره پوره برخه تر لاسه کړه - راوهغه حدیث جزدی چې ابوداود اوترمذی په صحیح سند سره روایت کړی دی -

اوځوك چې دمجازی پاچا دوزیرانو او مرستیالانو په شان د پاچا او رعیت په منځ کښې دوساطت دندی لری، د الله او مخلوق ترمنځ هم دغه ډول واسطی په دی شان سره ثابته وی چې دغه واسطې الله تعالی ته دمخلوق ارتیاوی وړاندی کوی او الله د دغو واسطو په وساطت او سفارش سره بنده کامنونه لاړ ښه ډډه کوی اوروزی ورکوی، پس په دی اساس مخلوق خپلی غوښتنی هغوی ته (واسطوته) وړاندی کوی، اوهغوی په دې باره کښې بیا د الله تعالی څخه سوال کوی او مثال یې داسی دی لکه څنګه چې د پاچا یانو په وړاندی واسطې قرار لری چې دغه واسطی په دی خاطر چې له نورو خلقو په نسبت د پاچا یانو په نزد د اعتبار له پلوه ځانګړی مرتبی لری. نو دوی د اولس یعنی رعیت ارتیاوی هم پاچا یانو ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوته کوی او هم یې د پوره کولو مطالبه اوغوښتنه کوی، او عام خلق یعنی اولس خپلې مطالبې د غوفاسطو (وزیرانو او مرستیالانو) ته وړاندې کوی، او دا له دې امله چې د پاچا نه مستقیمارنیغ په نیغه، سوال کول ورته یا بې ادبي معلومیږي، او یا داچې په مستقیمه توګه د حاجت منولځوا د پاچا نه په غوښتنه کښې ورته واسطوته په مراجعه کولوکښې یا ته فائده وی هُکه د غه واسطی (مشیران، وزیران او مرستیالان) د حاجت منو په پرتله سره د پاچا په نزد خاص اونژدې مقام لري.

پس هغه څوک چې په د غه ترتیب سره د واسطو په ثبوت باندې عقیده لري، نو هغه کافر او مشرک دی، او واجب دی چې توبې و ایستلو غوښتنه ترینه وشی که توبه یې و ایستله نښه ده، او که توبه یې نه و ایستله نو قتل یعنی وژل شی.

او دا هغه کسان دی چې خالق یې د مخلوق تشبیه کړی دی او الله (ج) سره یې شریکان پیدا کړی دی او په قرآن کریم کښې په د غو کسانو باندې رد کول په دومره ډیر یاته اندازه سره لیدل کیږي چې په دغه فتوی کښې ځای کیدلئ نه شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخلکو او پاچایانو ترمنځ واسطی دری ډوله دی.

د پاچایانو او خلکو ترمنځ چې کومې واسطې قرار لري د هغې درې وجې دی:

لومړۍ وجه دا ده چې دغه واسطې پاچاته د خلکو د حال احوال څخه کوم چې پاچاته په هغې باندې علم نه وی خبروړکوی، نو که څوک وایي چې الله (ج) د بنده ګانو په احوال باندې نه خبریږی مګر هله خبر شی چې ځینې ملا ئکې او انبیاء او یا نور څوک ورته د بنده ګانو د حال څخه اطلاع ورکړي، نو داسې کافر دی. ځکه چې الله پاک په پټو یعنی په ورو او پیرپټو خبرو باندې پوهیږی، او هغه څه چې په ځمکه او آسمان کښې پټ دی د الله پاک د علم څخه خارج نه دی (وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ) دا الله ښه آوریدونکی او ښه لیدونکی دی (الله) په مختلفو ژبو سره د بیلا بیلو هاجتونو د غوښتلو په برخه کښې ناری او فریاد و نه آوری، او د یو آواز اوریدل، دی د بل آواز د اوریدلو څخه نه منع کوی، دغه راز دی په کثرت د سوالونو سره غلطیږی نه، او د غوښتو نکو په غوښتنه سره خفه کیږی نه.

دویمه وجه دا ده چې پاچا د معاونینو (مرستیالانو) د مرستې نه پرته، نه د ملت د چارو تدبیر کولې شی او نه د دښمنانو په مقابل کښې د ناڅ کولې شی نو حتما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته د معاونینو او مرستیالانو د نیولو ضرورت وی
ځکه چې دی بې وسی او کمزوری دی او الله جل جلاله د دغه
ناقصو صفتونو څخه پاک دی د چا کومك او مرستې احتیاج
نه لري ؛ الله تعالی فرمایلی دی :

﴿ قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ
لَا يَمْلِكُونَ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ فِي السَّمَاوَاتِ وَلَا فِي
الْأَرْضِ وَمَا لَهُمْ فِيهِمَا مِنْ شِرْكٍ وَمَا لَهُ
مِنْهُمْ مِنْ ظَهِيرٍ ﴾ (۱) ترجمه یوهُل څخنی شوی
ده ودی کتل شی .

د دغه پر ول الله تعالی فرمایلی دی :

﴿ وَقُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَّ
لَمْ يَكُنْ لَّهُ شَرِيكٌ فِي الْمُلْكِ وَلَمْ يَكُنْ
لَّهُ وَلِيٌّ مِّنَ الذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا ﴾ (۲)
ترجمه: وویایه ټوله ستاینه الله تعالی لره ده هغه ذات
لره دهچې نه یې ولد نیولی دی او نه ورسره څوك په
بادشاهۍ کښې شریك شته دی، او نه ورلره څوك
مدد کار شته دې وسې له وجې نه لکه چې کتاب بیان
وایی، او په لویی سره یاد کړه الله لره (هر وخت)
په لویی کامله سره .

---

(۱) سبا : ۲۲ - (۲) سورة بنی اسرائیل : ۱۱۱ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

رشاه صاحب په موضح القرآن کښې لیکی: په الله باندې بې وسی یعنی چرته راځئ نه چې مدد کار ته یې ضرور پیښ شی، ژباړن

د اسبابو په عالم کښې چې څه موجودات دی الله (ج) دهغو ټولو خالق، پالونکی او مالک دی او هیڅ چا ته احتیاج نه لری غنی او بې پروا دی، او د الله تعالیٰ نه ماسوا چې هرڅوک دی هغوی ټول الله پاک ته محتاج دی۔

اما کوم چې پاچایان دی هغوی د خپلو مرستیالانو معاونت ته احتیاج او اړتیا لری، بلکښې حقیقت دا دی چې دوی په بادشاهئ کښې د هغوی سره برخه وال دی او الله (ج) یوازې ده سره هیڅوک په سلطنت (واکښې) کښې شریک نشته لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْکَ لَهٗ لَهُ الْمُلْکُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ۔

د رسیمه وجه داده چې پاچا ترهغه وخت پورې چې د بل چاله پلوه تشویق نه شی ده سره د ملت به حق کښې د فائدې، احسان او شفقت کولو قصد نه پیدا کیږی نو کله چې پاچا په دې ارتباط یا د خپلو ناصحینو (مشاورینو) له خوا چې د پاچا د محبوبیت خیال ورسره وی مخاطب شی او یاورته په دې مورد کښې به داسې ټوکه د یوچا له خوا مشوره وشکرل شی چې د پاچا سره هم امید پیدا شی، او هم ورسره خوف (ویره) پیدا شی، نو بیا دغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاچا په عزم او ایرا ده کښی د ملت دا رښتیا ؤ د رفع کولو په باب چمتو والی را منځ ته شی، او دا یا له دی امله چې د ناصح او مشیر سپارښت د ده په زړه باندی اثر را غیزه کړی وی، او یا داچې د مشوره ورکونکی د و ینا تاثیر لا ندی کومې چې تشویق او تخویف د و اړه افاده کوی را غلی وی۔

اما الله تعالیٰ ډکرد و اشیا ؤ رب او مالک دی، او موږ چې څومره په خپل اولا د باندې ترحم لری الله پاک د دې هم زیات په خپلو بنده ګانو باندی مهربان دی!۔

د غه ډول د ټولو اشیا ؤ خلقت د الله پاک دا ارادی پورې اړه لری که الله پاک د کوم څیز د پیدا کیدو ارا ده کړی وی نو هغه په وجود کښی راځی او که الله تعالیٰ یې ارا ده نه وی کړی نو د هغه وجود بیا امکان نه لری۔

او ده رالله، چې کله د ځینو بنده ګانو له پاره د ګټو ترتیب د ځینو نورو کسانو پورې مربوط ګرځولی نو بیا د غه کسان د هغوی سره مرسته پیل کړی، د عاګانو ورته شروع کړی او په دې برخه کښی ورله په سفارش بنا وکړی او د غسی د دی نور امثال هم واخله، پس والله تعالیٰ هغه ذات دی چې د غه ټولو شیانو خالق دی، او دا هغه ذات دی چې د احسان کونکی د عاګانو او سفارش والا په زړه کښی یې د دعا، سفارش اونیکۍ ګولو اړه پیدا کړی ده۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ددی امکان هم نشته چی داسی څوك دی موجود
وسی چی هغه دی الله (ج) لره د هغې اراده پرخلاف
باندی مجبور کړی او یا دی هغه الله پاك ته په هغه شی
باندی مجبور کړی چی الله پاك په هغې باندې (العیاذ
بالله) علم نه درلودې، او داسی څوك هم نشته چی
هغه الله پاك لره د اُمید او ویری ورکولو سبب وګرځی
او هم دغه وجه ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم
فرمایلی دی:

لا یقولنّ احدکم اللّهم اغفر لی ان شئت... الخ یعنی
ستاسو څخه یوکس دی داسی نه وایی چی: ای الله! که
ستا خوښه وی نو بخښنه راته وکړه، ای الله! که ستا
خوښه وی را باندې ورحم وکړه- بلکښی په یقین سره دی
سوال کوی څکه چی الله پاك مختار دی څوك یی مجبور نشی-

شفاعت د الله پاك د اذن پورې اړه لری

سفارشیان به د الله تعالی په حضور کښی د هغه د
اجازی نه پرته لکه چی الله (ج) فرمایی سفارش نه شی کولی
(مَنْ ذَا الَّذِیْ یَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ.) (۱) څوك
دی هغه کس چی سفارش به وکړی په نزد د ده مګر په
اجازت د ده- او الله پاك فرمایلی دی:

---

(۱) سورۀ بقره: ۲۵۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

(قُلِ ادْعُوا الَّذِينَ زَعَمْتُمْ .... الاية (۱)
هدا د نکه الله تعالی فرمایلی دی: (وَلَا يَشْفَعُونَ
إِلَّا لِمَنِ ارْتَضَىٰ) (۲) شفاعت به نه کوی مگر د هغه چا له
پاره چې الله پری راضی شوی وی. پس د اخبره یې په
د اګه کړه چې هر هغه څوك چې په غیر د الله (ج) څخه
بللی شی، هغه نه واکمن دی او نه ور لره د الله په
واکمنی کښی برخه شته او نه دی د الله لپاره معاون دی
او څوك نشته چې سفارش یې د الله د اذن پرته کټه نه
شی رسولی.

اما پاچایان داسی نه دی، ځکه د پاچایانو په حضور
کښی سفارش کونکی کله د قدرت خاوندان وی، کله د پاچا
سره په سلطنت یعنی واکمنی کښی شریکان وی او کله د
پاچا یا نو سره په دولتی چارو کښی مرستیالان او کومکیان
وی. نو د غه کسان او د دوی نه علاوه نور کسان
پرته له دی چې د پاچا څخه اجازه واخلی د پاچا په وړاندی
سفارش کوی او د پاچا له هغوایی سفارش منل کیږی
او دا کله له دی امله چې پاچا ورته احتیاج لری، او کله
له دی وجی نه چې پاچا ترینه ویره حس کوی، او کله
یې ورله د هغه احسان او انعام په مقابل کښی د بدلی
او مکافات په توګه قبولی چې دوی د پاچا سره کړی وی

(۱) سورة سبا: ۲۲-۲۳ (۲) سورة انبیاء: ۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بناءً دی د خپلې نېغې او حقې سفارش له دی وجې څخه قبلوی چې دی خپلې حقې نېغې ته احتیاج لري ځکه د حقې او نېغې مخالفت یې ارو مرو په ضرر تمامیږی، د غه راز دی خپل نوکر سفارش هم نه ردکوی، ځکه که ردکوی یې نو ده سره داویره پیدا کیږی چې یا به یې دا مرځمنه سر غړه ونه کړي، او یا به ده ته په زیان رسولو کښې کوښښ وکړي.

د بندګانو نو ټول خپل منځې سفارشات په هم دی ترتیب سره صورت مومی، پس هیڅ یوکس د بل چا سفارش نه قبلوی مګر له دی امله یې قبلوی چې یایې ترینه تمه کیږی او یایې ترینه ویره کیږی. او الله تعالیٰ هیڅ چا څخه تمه نه لري، د هیڅ چا نه ډیریږی نه، او هیڅ چا ته احتیاج نه لري، بلکښې هغه غنی ذات دی، او فرمایلې دی:

(اَلَآ اِنَّ لِلّٰهِ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِی الْاَرْضِ وَمَا یَتَّبِعُ الَّذِیْنَ یَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ شُرَکَآءَ اِنْ یَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ هُمْ اِلَّا یَخْرُصُوْنَ - قَالُوا اتَّخَذَ اللّٰهُ وَلَدًا سُبْحٰنَهٗ هُوَ الْغَنِیُّ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ) (۱)

ترجمه: خبردار، یقیناً د الله تعالیٰ په اختیار کښې دی هغه څوک چې په اسمانونو کښې دی، او هغه څوک چې په ځمکه کښې دی. او تابعداری نه کوی هغه کسان چې په غیر

---

(۱) سورة یونس: ۶۶-۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د الله نه شریکانولره بولي، او تابعداری نه کوی دی
مګرد ګمان، اونه دی دوی مګرد رڼ وغږ ون، ا ټکل کار و نه
کوی ... وایی دوی نیولی دی الله تعالی ولد (نازولی)
پاك دی الله تعالی، دی بې نیازه دی، خاص ده لره دی
هغه څه چې په آسمانونو کښی دی او هغه څه چې په ځمکه
کښی دی .

او مشرکانو چې کوم سفارشیان نیولی دی دوی د هم
دغو مشرکانو لره خو اسفارشیان ګڼل کیږی، الله تعالی فرمایلی
(وَيَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ
وَيَقُوْلُوْنَ هٰٓؤُلَآءِ شُفَعَآؤُنَا عِنْدَ اللّٰهِ قُلْ
اَتُنَبِّئُوْنَ اللّٰهَ بِمَا لَا يَعْلَمُ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا
فِي الْاَرْضِ سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ - (۱)

ترجمه: او بندګی کوی داخلق په غیر الله نه د هغه چا
چې نه ضرر رسولی شی دوی ته او نه نفع رسولی شی دوی
ته، او وایی دوی چې داکسان سفارشیان زمونږ دی د الله
تعالی په درباركښی، ووایه ته آیا تاسو خبروركوئ الله
تعالی ته د هغه څه چې نه دی پوهه په هغی باندی په
آسمانونو کښی اونه په زمکه کښی (یعنی داسی شی هیڅ
نشته)، پاك دی الله تعالی او لږ لوی دی له هغو اشیاؤ څخه
چې دوی یې شریکوی د الله (ج) سره. او هم دا رنګه الله تم

(۱) سورة یونس: ۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرمایلی دی:

(فَلَوْلَا نَصَرَهُمُ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قُرْبَانًا اٰلِهَةً ۭ بَلْ ضَلُّوْا عَنْهُمْ وَذٰلِكَ اِفْكُهُمْ وَمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ۔) (۱)

ترجمه: پس ولی مرسته ونه کړله دوی سره هغو چې ښیولی وو دوی هغوی لره معبودان پرته له الله نه د پاره د نژدې والي الله ته بلکښې ورته شول (دعاګانې په وخت کښې) له دوی څخه او هم دا دی د دروغ دوی او هغه څه چې ترې یې دوی (پرالله) ۔

او د مشرکانو د عقایدو نه د خبر ورکولو په لړ کې یې دا سې فرمایلي دی:

(مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى الآیه (۲)

ترجمه: او ویل دوی: عبادت نه کوو مونږ دوی مګر دې د دې له پاره چې نژدې کړي دوی مونږ الله تعالیٰ ته په مرتبه د قرب کښې۔

د غه راز الله تعالیٰ فرمایلي دی:

(وَلَا يَاْمُرَكُمْ اَنْ تَتَّخِذُوا الْمَلٰۗىِٕكَةَ وَالنَّبِيّٖنَ اَرْبَابًا ۔) الایة (۳)

او هم دا سې نګه یې فرمایلي دی:

(قُلِ ادْعُوا الَّذِيْنَ زَعَمْتُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ

---

(۱) سورة احقاف: ۲۸ (۲) سورة زمر: ۳ (۳) ال عمران: ۸۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

فَلَا يَمْلِكُوْنَ كَشْفَ الضُّرِّ عَنْكُمْ وَلَا تَحْوِيْلًا۔
اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ يَبْتَغُوْنَ اِلٰى رَبِّهِمُ
الْوَسِيْلَةَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ وَيَرْجُوْنَ رَحْمَتَهٗ
وَيَخَافُوْنَ عَذَابَهٗ اِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ
مَحْذُوْرًا۔ (۱)

مګر سفارش والا او دعا کونکی صرف هغه وی چې سفارش او دعا کولې شی دکوم په باره کښې چې ورته اجازه حاصله شوی وی، پس دی هغه ډول شفاعت نه شی کولې دکوم څخه چې منع راغلی یی، لکه د مشرکانو په حق کښې سفارش کول او ورله بخښنه غوښتل شو الله تعالی فرمایلی دي:

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا
لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا اُولِيْ قُرْبٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا
تَبَيَّنَ لَهُمْ اَنَّهُمْ اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ، وَمَا كَانَ
اسْتِغْفَارُ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ اِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ
وَّعَدَهَآ اِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗٓ اَنَّهٗ عَدُوٌّ
لِّلّٰهِ تَبَرَّاَ مِنْهُ، اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَاَوَّاهٌ حَلِيْمٌ۔ (۲)

ترجمه: نه دی روا پیغمبر لره او نه مسلمانانو لره چې بخښنه وغواړي د مشرکانو له پاره اګرکه وی دوی خپلوان د خپلوئ پس له هغې نه چې بنکاره شوه د دوی چې دوی دوزخیان دی، او نه وه بخښنه غوښتل د ابراهیم (ع) د خپل

(۱) بنی اسرائیل: ۵۷ (۲) التوبة: ۱۱۳،۱۱۲۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار له مکر په سبب د وعدی وه چی کړی وه (پلار) هغه وعده د ده (ابراهیم) سره پس هر کله چی بنکاره شوه ابراهیم ته چی دی د بنمن د الله دی نو بیزاره شو هغه نه بیشکه ابراهیم خامخا د یر نرم زړی او صبرناک وُ - او د غه وو الله تعالی د منافقانو په هکله فرمایی دی:

(سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ اَسْتَغْفَرْتَ لَهُمْ اَمْ لَمْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ لَنْ يَغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ) (۱)

ترجمه: برابره خبره ده په حق د دوی کښی که وو غواړی ته بخښنه د دوی له پاره او که یی و نه غواړی د دوی له پاره، هیڅ کله به و نه بخښی الله دوی لره.

او په صحیح حدیث کښی ثابته شوی ده چی الله پاک خپل پیغمبر د مشرکانو او منافقانو په حق کښی د بخښنی غوښتلو څخه منع کړی دی، او د دی خبری څخه یی خبر ورکړی دی چی (الله) دویته بخښنه نه کوی او فرمایلی یی دی:

(اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ) (۲)

ترجمه: یقینا الله پاک نه بخښی چی شرک اوکړی شی د هغه سره، او بخښی هغه ګناهونه چی کم دی د دینه هغه چاله چی اراده و فرمایی د مغفرت یی. د غه وو

(۱) منافقون: ۶ (۲) سورة النسآء: ۴۸ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرمایلی دی:

﴿ وَلَا تُصَلِّ عَلٰٓى اَحَدٍ مِّنْهُمْ مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ اِنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴾ (۱)

ترجمه: او هیڅ کله مه کوه مونځ (د جنازې) په هیڅ تن له دغو (منافقانو) چې مړشي، او مه درینږه په قبر د ده (د دعاء، استغفار، یا تدفین د اهتمام له پاره)، بیشکه دغه (منافقان) کافران شوی دی په الله تعالیٰ او په رسول د هغه، او مړه شوی دی دوی په داسې حال کښې چې دوی نافرمان وو. همدارنګه الله تعالیٰ فرمایلی دی:

﴿ اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴾ (۲)

ترجمه: و بولئ تاسی خپل رب لره (هر وخت)، په زاړئ عذر او په پټه سره بیشکه چې الله نه خوښوی تیریدونکی (له شرعي حدودو نه په دعا کښې)- او په دعا کښې شرعي حدود څخه تجاوز دا دی چې بنده د الله پاک څخه د هغه کارکول غواړی چې الله پاک هغه کار نه کوی د مثال په توګه دی نبي نه دی او د الله پاک څخه د پیغمبرئ مقام غواړی، یا د مشرکانو له پاره د مغفرت سوال کړی او داسې نور شو او یا داچې د الله پاک څخه ډکناه او

(۱) سورة توبه: ۸۴ (۲) اعراف: ۵۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

معصیت سوال کوی لکه په کفر، فسق او نافرمانی کولو سره دا الله ج، نه دکوملځ غوښتنه کوی، پس سفارش کونکی هغه څوک دی چی الله پاک ورته د سفارش کولو اجازه کړی وی، او بیادی هغه چا دلته غوښتنه کولې شی چې په دغه غوښتنه (دعاء) کښی ګناه نه وی، که چرته یوتن یی داسی څه وغواړی چی ورله مناسب نه وی نو بیا په هغې باندې تینګار نه کوی څکه چی هغوی پښه هغې باندې د تینګار کولو څخه لکه چی الله تعالی فرمایی معصوم دی:

(اِنَّ ابْنِیْ مِنْ اَهْلِیْ وَاِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَ اَنْتَ اَحْكَمُ الْحٰكِمِیْنَ.) (۱)

ترجمه: بیشکه زما زوی زما د اهل څخه دی، او بې شکه وعده ستاسو حقه ده، اوته ډیر لوی حکم کونکی یی،

بیا الله پاک و فرمایل:

(یٰنُوْحُ اِنَّهٗ لَیْسَ مِنْ اَهْلِكَ اِنَّهٗ عَمَلٌ غَیْرُ صَالِحٍ فَلَا تَسْـَٔلْنِ مَا لَیْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ اِنِّیْۤ اَعِظُكَ اَنْ تَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِیْنَ. قَالَ رَبِّ اِنِّیْۤ اَعُوْذُ بِكَ اَنْ اَسْـَٔلَكَ مَا لَیْسَ لِیْ بِهٖ عِلْمٌ وَ اِلَّا تَغْفِرْ لِیْ وَ تَرْحَمْنِیْۤ اَكُنْ مِّنَ الْخٰسِرِیْنَ.) (۲)

ترجمه: ای نوحه! یقیناد ی ستا د اهل څخه نه دی

---

(۱) سورة هود: ۴۵ (۲) هود: ۴۶، ۴۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

څکه چې دی د اسی عمل والا دی چې نیټ نه دی پس
دُعا مه غواړه زمانه دهغه چا په باره کښې چې نشته
دی تالره ده هغه (د ایمان) په باره کښې یقین بیشکه
زه پند درکوم تاته چې (نه) شی ته له جاهلانو څخه
وویل ده: (نوحؑ) ای ربه حما! یقیناً زه پناه غواړم پتا
سره له دی چې سوال وکړم له تانه د هغه چا په باره
کښې چې نشته مالره د هغه په ایمان باندې یقین
او که ته مخښنه و نه کړی ماته او رحم و نه کړی په
ما باندې نو شم به زه له زیان کارانو نه۔

اوس سفارش کونکی، او د عا والا چې د الله پاک په
درباد کښې سوال او سفارش او د عا د الله تعالیٰ د قضا
قدر او مشیت پوری اړه لری پس د الله هغه ذات دی
چې قبلونکی د سفارش دی او اجابت کونکی د د عا دی
او هغه ذات دی چې د سبب او مسبب دواړو خالق دی
او د ا د عا د هغوا سبابو د جملی څخه ده کوم چې د
الله تعالیٰ له طرفه مقدر شوی دی۔

پس کله چې حقیقت په دی ترتیب سره دی بیا نو
محض اسباب مؤثر کنل بې له دی چې مؤثر حقیقی
ته یې نسبت و شی، شرک فی التوحید کنل کیږی
او د سبب څخه په دی وجه کار نه اخستل چې په دې
برخه کښې یې سببیت تثبیت نه دی د ا د عقل تنقیص

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نیمګړتیا وجه ده او په کُلّی توګه د اسبابو څخه ستړګی پتوي چې هیڅ وجود نه لري د اد شریعت ېې اعتباره کول او ورباندې داغ ګڼول دی، بلکینې په بنده باندې والازم دی چې دی به متوکل علی الله اوسیږي او د ده څخه به سوال او غوښتنه کوی او امید به ترینه ساتی او دا ځکه چې الله پاک د بنده د مشکل د حل له پاره د مخلوق دعا او هُغې نورو شیانو چې خوښوي وی اسباب مقرر کړی دی ـ

دَادُنیٰ په حق کښې دَاعلیٰ له طرفه دُعا غوښتل او دغه راز بالعکس دواړه مشروع طریقې

د دعا غوښتل یوه مشروع او جائزه طریقه ده لوړې مرتبې خاوندې د تیټې درجې د څښتن له پاره کوله شی او د تیټې درجې والا یې د لوړې درجې خاوند په برخه کښې کولی شی لکه چې د انبیاؤ علیهم السلام څخه به د شفاعت او دعا غوښتنه کیده او دغه راز مسلمانانو د استسقاء یعنې د باران کیدلو په برخه کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د سفارښت او دعا غوښتنه کړې ده (۱) او همدارنګه بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه بعد عمر رضی الله عنه او نورو مسلمانانو په ګډه سره د

(۱) دادا علیٰ له طرفه د ادنیٰ په حق کښې د دعا کولو مثالونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

استسقی په باره کښی د نبی علیه السلام ترره عباس رضی الله عنه د دعا کولو له پاره غوره که او وړاندی یی کړه -

د غه ډول خلك به د قیامت په ورځ انبیا و علیهم السلام څخه د شفاعت غوښتنه کوی چی محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوئ کښی ډک دوسفارش کوونکو سردار دی، او د یو شمیر خاصو سفارشونو د پاره هم د هغه په برخه دی، امّا د دی سره سره بیا هم په صحیحینو کښی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه داخبره ثابته ده چی ده فرمایلی دی: (۱)

« اذا سمعتم المؤذن فقولوا مثل ما یقول ثم صلوا علیّ فانه من صلی علیّ مرة صلی الله علیه عشرا ثم سلوا الله لی الوسیلة فانها درجة فی الجنة لا تنبغی الا لعبد من عباد الله وأرجو ان اکون ذلك العبد فمن سأل الله لی الوسیلة حلت له شفاعتی یوم القیامة » - (۲) یعنی کله چی تاسی د مؤذن څخه اذان آوری نو تاسی ورسره هغه څه وایئ چی هغه یی وایی (د آذان کلمات ورسره تکرار وئ) او بیا ورته پر ما باندی درود وواییئ هکه هغه

---

(۱) داولنی له پلوه دا علی درجی د څښتن له پاره د دعا غوښتلو مثالونه ذکر کیږی - (ژباړن) -

(۲) دا یواځی مسلم روایت کړی دی -

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوك چې پرما باندې يو واړ درود وو وايي الله پاك په هغه باندې لس كرته درود وائې بيا ورپسې د الله تعالى څخه زما له پاره وسيله وغواړي حكه د غه وسيله په جنت كښې يوه درجه ده چه د الله تعالى د بنده گانو څخه د يو بنده له پاره اختصاص شوې ده، او زه هيله كوم چې د غه بنده زه وو وسم پس څوك چې زما لپاره د الله پاك څخه وسيله او غواړي نو د قيامت په ورځ زما د شفاعت له پاره مستحق وگرځيده ـ

د غه راز عمر رضى الله عنه چې كله د عمرې كولو لپاره تللو او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته په مخه ښه ويله نو عمر رضى الله عنه ته يې و فرمايل: (يَا أَخِيْ لَا تَنْسَنِي مِنْ دُعَائِكَ) (۱) اى روره كه! ما په د عا كښې له ياد ه مه او باسه ـ

پس نبى عليه السلام د خپل امت څخه غوښتى دى چې د ده له پاره د عا وغواړي، ليكن د غه غوښتنه د دى جملې څخه نه ده چې دې كښې د خپلوا متيازو څخه سوال كړي بلكښې دى دوى ته په دى باندې داسى امر كوى لكه څرنگه چې دى ورته د نورو نيكوا عمالو په باره كښې په كومو چې ثواب حاصليزى، امر كوى، د رسول الله صلى

(۱) د دې حديث په سند كښې عاصم بن عبد الله دى او هغه ضعيف دى ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله علیه وسلم له پاره د خپلو امتیانو په ټولو اعمالو کښې چې د دوی له خوا تر سره کیږی د دوی په شان اجر دی ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابته ده چې ده فرمایلی دی: مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى .... الخ

یعنی چا چې د نیکئ په لوری بلنه ورکړه نو ده لپاره د هغو کسانو د ثواب په اندازه اجر دئ چې د ده تابعداری وکړی بې لسدی چې د دوی په اجر کښې څه کمولی شی او څوک چې د ګمراهئ په لوری بلنه ورکوی نو پر ده باندې به د هغه چا د ګناه په اندازه ګناه پیتی کیږی چې د ده پیروی کړی وی بې له دی چې د دوئ د ګناهونو په بارکښې څه کمولی شی۔

پس په دا سی حال کښې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هر نیک عمل په لوری خپل امت ته بلنه ورکړی ده، نو د ده له پاره د دوئ په ټولو هغو اعمالو کښې چې په هغې کښې د ده تابعداری کړی وی، د دوئ په شان اجر دی۔

د غه پوله کلمه چې د وی په رسول اکرم صلی الله علیه وسلم باندې درود وائی، نو الله پاک په هر یو د هغوئ باندې لس ځلی درود وائی رحمت لیږی، او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له پاره دوئ دا اجر په شان اجر حاصلیږی او دا هر کنده خبره ده چې الله پاک د رسول الله صلی الله علیه وسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حق کښې د دوی د دعا اجابت کوی او شئ نشته چې الله تعالی د دغه د عا په واسطه سره دوی ته ثواب یعنی بدله ورکوی، او کومه فائده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسیږی هغه د دغه د عا په واسطه سره د الله تعالی د لوری نعمت کرځی۔

دُعادَاعِیٔ او مَدعُوٌّ لَهٗ دُوارِه ته کتهٔ سوی۔

د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په صحیح حدیث کښې ثابته ده چې ده فرمایلی دی: داسی یو سړی نشته چې دی دهغه د رور له پاره په غیاب کښې دُعا کوی مګر داچې الله پاک هغی له یوه فرښته مقرره وی چې هر واری دی د هغه د رور له پاره کومه دعا کوی نو د غه مقرر شوی فرښته وائی: آمین او ستا له پاره دی هم دومره وی۔

په یو بل حدیث کښې را غلی دی: ((اَسْرَعُ الدعاءِ دعوة غائبٍ لغائبٍ)) (۱) یعنی ډیره زیاته د قبول وړ دعا په غیاب کښې د یو چا له پاره د عا کول دی۔

پس د بدله پاره په د عا غوښتلو سره داعی (د عا کونکی) او مدعوٌّ لَهٗ (د چا له پاره چې د عا غوښتل کیږی) د وارو

---

(۱) منذری، ذهبی، او هغو نورو حدیث پوهانو د غه حدیث ضعیف بللی دی۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته کتنه رسیږی اګرچې دعاګونکی په دې تنه کښې د هغه چا
چې دعاوړ له غوښتل کیږی تیت هم وی، له دی امله
مؤمن چې کله دخپل ورور په حق کښې کومه دعاګوی نو
په هغې سره هم دې ته فائده حاصلیږی او هم پرې
هغه چا ته فائده رسیږی چې دعاوړ له غوښتل کیږی۔

پس چاچې بل ته وویل: زما له پاره دعاوکړه او په
سره یې خپل ځان او د ټولو ګونکی دواړو ته کتنه رسول
مقصد دی، نو دې او هغه مسلمان ورور یې دواړه د نیکئ او
تقوی په برخه کښې د یو بل مرستیال ګرځیدل ځکه
دې خپل دعاګونکی ورور د مطلوب په لوړو مقامونو او د
هغه څه تر سره کولو ته یې متوجه کړه چې د دواړو له
پاره یې پکښې فائده او کتنه ده۔

پس غوښتونکی په دعا سره د داسې فعل چې دواړو
ته پکښې فائده وی د هغه چا په شان دی چې بل ته په
نیکئ او تقوی سره امر کوی چې یې مامور ته د دغه عمل
په انجامولو سره هم ثواب رسیږی او آمر ته هم د
ثواب په اندازه ثواب حاصلیږی ځکه چې دغه مامور یې
دی نیک عمل ته رابللی دی، او بالخصوص د هغوی دعاګانو
په برخه کښې لکه چې الله تعالی فرمایلی دی بنده مامور
کړلې شوی دی۔ (وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَ
الْمُؤْمِنَاتِ)(۱)

(۱) سورة محمد: ۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: او بخښنه او غواړه دګناه خپلې او د پاره د مؤمنانو سړیو او مؤمنانو ښځو په دې کښې الله پاک په استغفار سره امر کړی دی او بیا یې فرمایلی دی:

وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا (۱) - ترجمه: اوکه چیرې دا په له کوم وخت چې ظلم وکړه دوی په ځانونو خپلو راغلی وی تاته پس بخښنه غوښتی وی دوی له الله څخه او بخښنه غوښتی وی پیغمبر د دوی له پاره نو ځامخا به موندلې وو دوی الله تعالیٰ توبه ښه قبلونکی د توبې پیر رحم والا.

په دې آیت کښې الله پاک دعا موخلقو د استغفار او د دوی په حق کښې یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د استغفار دوارو ذکر کړی دی، او په هغه بل آیت کښې سول الله صلی الله علیه وسلم ته د دی امر شوی دی چې د مؤمنانو سړو او مؤمنانو ښځو له پاره بخښنه او غواړی ولی د اخبره دیاونې ورکړه چې الله پاک مخلوق ته د دی امر نه دی کړې چې دوی دی مخلوق له پاره دا سې شی سوال وکړی چې الله پاک مخلوق ته په هغې سره د سوال کولو امر نه وی کړې بلکښې الله پاک چې بنده ته د کوم شی امر کړی دی هغه فعل دی او ترک دی تعمیلول یې د الله تعالیٰ عبادت او طاعت دی

---

(۱) سورة النساء: ۶۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د فاعل په حق کښې د اصلاح، سعادت او د غه راز الله تعالی ته د نزدیکت وسیله اوسیب دی۔

پس کله چې دی د غه فعل ترسره کړي نو د الله پاک د لوړی د لوی احسان او انعام (پیر زوني، مستحق وګرځي او د ټولونه ستر احسان چې الله پاک په بنده ګانو باندی دهغې پیرزونه کړی دا هغه د ایمان د قبلولو په برخه کښې ورته هدایت او توفیق ورکول دی چې د غه ایمان د قول او عمل څخه عبارت دی او د طاعتونو او نیکیو په کولو سره ذیات والی مومی، نو هر کله چې بنده د خیر کار (نیک عمل وکړی)، نو په ایمان کښې یې زیادت راشی، او دا هغه حقیقی انعام دی د کوم یاد ونه چې د الله تعالی په دې مبارک قول کښې شوی دی:۔

(صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ۔) (۱)

ترجمه: لاره د هغو کسانو چې تا انعام کړي دی په هغوئ باندې۔ او دا رنګه د الله تعالی په دی قول کښې یاد ونه شوی دی:

(وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَ الرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ)۔ (۲)

ترجمه: او هر څوک چې د الله او د الله د رسول و منی نو د غه کسان به (په جنت کښې) د هغو کسانو سره وی چې

(۱) فاتحه: ۷ (۲) نساء: ۶۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

انعام کړی دی الله پرهغوی باندی۔

اما داخیره چی د دنیا نعمتونه پرته له دین څخه نعمتونه دی اوکه نه دی، په دیکښی زمونږ د مسلك د علماوو او نورو علماوو دوه مشهور قوله دی چې تحقیق له مخی د نیوی نعمتونه من وجه نعمتونه بلل کیږی اګرچی من وجه تامه نعمتونه نه شمیرل کیږی۔

ولی دینی نعمتونه کوم چی حصول یی په کار دی دا هغه څه دی چی الله پاك یی په کولو سره امر کړی دی اود واجبو او مستحبو څخه عبارت دی، پس دا د خیر هغه امور دی چی طلب یی د مسلمانو په اتفاق سره ضروری خیره ده، او دا هل السنة والجماعة په نزد باندی اصلی او حقیقی نعمت دی، ځکه د دوی په نزد باندی الله هغه ذات دی چی بنده ته یی نعمت د نیك عمل په ترسره کولو سره حاصلیږی۔

په دی ځای کښی مقصد دا دی چی الله پاك مخلوق ته لا د الله څخه د مخلوق په برخه کښی صوف د هغه څه په باره کښی د سوال کولو امر کړی دی چی په هغی کښی د مخلوق له پاره خیر او فائده وی چی هغه یا واجب دی یا مستحب دی ځکه چی الله تعالی مخلوق څخه د دینه پرته بل څه نه غواړی، پس بل چا ته په څنګه اختیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړکې چې له دې څخه دې د دې نه (واجبوا د مستحبو نه) په غیر بل څه وغوښتل شي! بلکښې الله تعالیٰ په بنده د ضرورت نه پغیر د بنده څخه د مال غوښتل هم حرام او ممنوع ګرځولی دی۔

اوس په دې لړکښې د دعا غوښتونکي نیت ته کتل پکار دي چې نیت څنګه دی، که مقصد یې په سره دعا ماموره بالدعاء (دعاکونکی) ته او یا دهغه او دعاکونکي دواړو له پاره فائده رسول وي، نو په دې سره دعا غوښتونکي ته ثواب حاصلیږي، او که چیرته یواځې هغه مطلب حاصلول یې مقصد وي له دې چې ماموره بالدعاء (دعاکونکی) نه یې ګټه ورسیږي، نو دا یواځې د دې د نفس تقاضا پوره کول دي او بس۔

په دغه ډول سوال کولو سره الله پاک یعنې امر نه کوي، بلکښې د دغه راز سوال څخه یې نهي کړې ده ځکه چې دا د مخلوق په حق کښې داسې یو سوال دي چې د چا له پاره پکښې د مصلحت او ګټې د سولو کوم قصد نه دي شوی، او حال دا چې الله پاک مونږ ته امر کوي چې ده ته راجع شو، بنده ګي یې وکړو او د بندګانو سره یې په نیکۍ او احسان کولو سره مشغول او وسو۔

په دغه ډول سوال کښې د دغو مقاصدو څخه دیو قصد هم نه دي شوی نه پکښې الله تعالیٰ ته د راجع کیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دعا او صلوة قصد شوی دی او نه پکښی مخلوق سره احسان کول، لکه زکوٰة اداکول شو په نظر کښی نیول شوی دی۔

اګرچې بنده د دغه ډول سوال په کولو سره نه کنګ کاریږی اما بیا هم ماموربه، اوما یؤذن له فیه، یعنی هغه شی چې بنده ته یې د کولو امر شوی دی، او هغه شی چې بنده ته پکښی صرف اجازه حاصله ده یو شان نه دی بلکښی دواړه په خپل منځ کښی یو د بل سره توفیر او فرق لری۔

د مثال په توګه استرقاء، یا دم اچولو غوښتنه شوه، هګه د دغه کار اګرچې جائز دی خو بیا هم رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوحدیث کښی فرمایلی دی: آو یا زره کسان داسې دی چې بې له حساب څخه به جنت ته داخلیږی او داخلوونکی دی چې استرقاء یعنی د رقیې او دم طلب نه کوی (مقصد دا دی چې)، دوی د ضرورت په وخت کښی د رقیې د طلب څخه کوم چې صرف ما یؤذن له فیه دی او د رخصت په درجه کښی قرار لری دوسیلی په توګه استفاده نه کوی بلکښی د توکل څخه کوم چې اعلی اولوړه درجه مقام لری کار آخلی۔

(شیخ الاسلام ابن تیمیه رح وایی: د دی مسئلی په هکله مابل ځای کښی په تفصیل سره بحث کړی دی او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی خُای کښی مقصد دادی چی هرشوك د الله اود الله د مخلوق ترمنځ داسی واسطی ثابته وی لکه څرنګه چی د مجازی پاچایانو او رعیت ترمنځ وجود لری، نو هغه د دغه عقیدی په لرلو سره د اسلام څخه خارجیږی او مشرك ګرځی، ځکه داد هغو مشرکانو عقائدو چاچې د بتانو عبادت او بندګی کوله او ویل به یی:

دا بتان، دا نبیاوه او نیکانو بندګانو تصاویر او شکلونه دی او الله ته د تقرب حاصلولو له پاره زمونږ وسیلی دی! همدارنګه داهغه دول شرك دی چی الله تعالی د هغی په وجه په نصرانیانو باندی رد کړی دی او فرمایلی یی دی:

﴿ اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴾ (۱)

ترجمه: اختیار مند جوړ کړی دی، دوی ملایان او پیران هغوی د احکامو د حلالولو او حرامولو په غیر د الله تعالی نه، او مسیح هُوی د مریم او حکم نه ګڼلی دی ته مکرر دی هغوی چی بندګی دی وکړی دوی خاص د مدګاریو نشته دی لائق او حقدار د بندګی په غیر له ده نه، پاك دی الله تعالی د هغی نه چی دوی یی د سره شریك ګرځوی.

---

(۱) سورة التوبة: ۳۱ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز د الله تعالی څخه په مستقیمه توګه د سوال کولو په برخه کښی الهی فرمان داسی راغلی دی :

(وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِیْ عَنِّیْ فَاِنِّیْ قَرِیْبٌ ؕ اُجِیْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ فَلْیَسْتَجِیْبُوْا لِیْ وَلْیُؤْمِنُوْا بِیْ لَعَلَّهُمْ یَرْشُدُوْنَ ۰ (۱)

ترجمه: او هر کله چی پوښتنه وکړی له تا څخه بندګان زما له حال زما څخه نو بیشکه زه نژدی یم قبلوم دعا د دعا کونکی کوم وخت چی دعوا پری له ما څخه پس د دی منی حکمونه زما او ایمان دی راوړی پر ما یقین دی وکړی په قبول د دعا سره، ښایی چی دوی په سمه لاره محکم پاتی شی -

همدا رنګه الله تعالی فرمایلی دی -

(فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ وَاِلٰی رَبِّكَ فَارْغَبْ - (۲)

ترجمه: پس کله چی فارغ شی (د تبلیغ یا د نورو څخه) نو ځان ستړی کوه (په عبادت یا دعاء کښی) او خپل رب ته رغبت او زاری وکړه -

همدا رنګه الله تعالی فرمایی: (وَاِذَا مَسَّكُمُ الضُّرُّ فِی الْبَحْرِ ضَلَّ مَنْ تَدْعُوْنَ اِلَّا اِیَّاهُ) (۳)

ترجمه: او کله چی تکلیف او رسیږی تاسوته په دریاب کښی نو هیر شی ستاسونه هغه څوک چی تاسو یی په ځانونو کښی په غیر د الله تعالی نه را بولئ - او همدا رنګه الله پاک

---

(۱) بقره: ۱۸۶ (۲) الم نشرح: ۸،۷ (۳) الاسراء: ۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرمایلی دی :

(اَمَّنْ یُّجِیْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَ یَکْشِفُ السُّوْٓءَ وَیَجْعَلُکُمْ خُلَفَآءَ الْاَرْضِ)-(۱)

ترجمه: بلکښی هغه څوک (غوره دی)، چې قبلوی سوال د عاجز (بیکس او ناقراره) کله چې هغه ورته ودعا کړی او لرې کوی سختی او کړکوی الله تاسو لره خلیفه کان په زمکه کښی.

د غه راز الله تعالیٰ فرمایلی دی :

یَسْئَلُهٗ مَنْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ کُلَّ یَوْمٍ هُوَ شَاْنٍ) (۲)

ترجمه: سوال کوی د الله تعالیٰ څخه هر هغه څوک چې په آسمانونو او ځمکه کښی دی هره ورځ الله په یوبل شان کښی دی .

په الله باندی توکل او یواځی د الله تعالیٰ څخه ویره او امید سائل د توحید څخه عبارت دی

شک نشته چې الله پاک د خپل مبارک کتاب په ذریعه سره هر د شرک جړ پی قطع کړی دی او هم یې په د غه کتاب کښی د توحید د د غه پول پوره وضاحت او بیان کړی دی، او د ا په دی خاطر چې هیڅ یوکس د الله تعالیٰ څخه پرته په بل

(۱) نمل: ۶۲ - (۲) رحمٰن: ۲۹ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیڅ چا باندې توکل وکړي، نه ترینه امید وساتي او نه ترینه ویریږي، الله تعالی په دې هکله داسې فرمایلی دی:

(فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ، وَلَا تَشْتَرُوا بِاٰيٰتِي ثَمَنًا قَلِيْلًا ط (١)

ترجمه: پس مه ویریږئ تاسو خلقونه او ویریږئ له ما څخه او مه اخلی ځما په ایاتونو باندې بدله لږه (دنیا)

همدارنګه الله تعالی فرمایلی دی:

(اِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ يُخَوِّفُ اَوْلِيَآءَهٗ). یعنی غه جاسوس یقیناچې شیطان دی تاسې دخپلو ملګرو څخه ویره وی. (فَلَا تَخَافُوْهُمْ وَخَافُوْنِ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ) (٢)

پس مه ویریږئ له هغوی نه، او له ما نه ویریږئ که چرې یئ تاسې مؤمنان. یا هُکه چې تاسو مؤمنان یئ.

همدارنګه الله تعالی فرمایی:

(اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيْهِمُ الْقِتَالُ اِذَا فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَخْشَوْنَ النَّاسَ كَخَشْيَةِ اللّٰهِ اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً) - (٣)

ترجمه: آیا نه دی کتلی تا (ندی رسیدلی تاته حال څه هغو کسانو چې وو ویلی شو دوی ته: بند کړی تاسو لاسونه خپل او قائموی یعنی سم ادا کوئ لمونځ او ورکوئ تاسې زکوة

(١) مائده: ٤٤ - (٢) آل عمران: ١٧٥ - (٣) النساء: ٧٧

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو کله چې فرض کړې شو په دوی باندې جنګ، په دې وخت کښې یوه ډله له دوی نه ویریدله له خلقونه په شان د ویرې د دوی د الله نه، بلکښې ډیر زیات دویرې له دغه.

دغه ډول الله پاک فرمایلی دی.

(اِنَّمَا یَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَی الزَّكٰوةَ وَلَمْ یَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ). (۱)

ترجمه: بیشکه چې آباد وی مساجد یعنی جوماتونه د الله تعالی هغه څوک چې ایمان یې راوړی دی په الله او په ورځ د آخرت او سمه یې اداء کړې دی لمونځ او ورکړې یې دی زکوة او نه دی ویرې دلی مګر د الله نه یعنی په غیر د الله څخه د بل چا نه نه دی ویریدلی.

پس دا خبره څرګنده شوه چې اطاعت یې د الله او د الله د رسول دواړو کیږی، او ویره به یواځې د یو الله څخه کیدای شی.

هم دارنګه الله تعالی فرمایلی دی:

(وَلَوْ اَنَّهُمْ رَضُوْا مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ سَیُؤْتِیْنَا اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ وَرَسُوْلُهٗٓ اِنَّآ اِلَی اللّٰهِ رٰغِبُوْنَ). (۲)

ترجمه: اوکه دوی خو شحاله شوی وای په هغه څه

---

(۱) التوبة: ۱۸ (۲) التوبة: ۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ورکړې ؤ دوی ته الله تعالیٰ او رسول دهغه، او دوی ویلی وای چې کافی (بس) دی مونږ لره الله تعالیٰ زمونږ چې را به کړي مونږ ته الله تعالیٰ د فضل خپل نه او رسول د دغه الله (له یو غنیمته) ۔

او د الله تعالیٰ د دی قول نظیر د الله پاک د غه مبارک قول دی چې فرمایی :

(اَلَّذِیْنَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ اِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوْا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ اِیْمَانًا وَّ قَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَ نِعْمَ الْوَكِیْلُ۔ (۱)

ترجمه: دا هغه کسان دی چې وویلی دوی ته خلقو (جاسوس) یقیناً خلقو یعنی کافرانو را ټول کړي دی ستاسی د مقابلی له پاره ډیر لښکرونه ویریږئ له دوی نه پس د غه ویره د دوی ایمان زیات کړ، او دوی ویل دوی: بس دی مونږ لره الله تعالیٰ او دی ښه کارساز دی۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت ته د توحید د غه قسم په کامله توګه ثابت او روښانه کړه او د شرک ټول اسباب یی په خپل امت کښ محوه او نابود کړل او دا له دی امله چې د غه ډول توحید زمونږ د دی قول تثبیتونکی دی چې وایو ۔

(لا اله الا الله) نشته دی لائق د بندګی او عبادت

(۱) آل عمران: ۱۷۳ ۔

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر یوالله دی یعنی دالله پاک نه په غیر بل څوک د عبادت او بندګۍ وړنه دی، ځکه رالله هغه ذات دی چې زړونه ورته په کمال محبت، تعظیم، درنښت، احترام امید اوخوف سره ټینګین له یاره پناه وروړی -

رسول الله صلی الله علیه وسلم په دی برخه کښی زښت زیات تاکید وکړ اوهغی چې خپلوامتیانو ته یې وفرمایل: (لاتقولوا ماشاءالله وماشاء محمد) یعنی داسی مه وایئ که دالله خوښه وی اود محمدؐ خوښه وی بلکښی داسی وو وایئ: ماشاءالله ثم شاء محمد) که دالله خوښه وی او بیا دمحمدؐ خوښه وی -

یوځل یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: که دالله خوښه یې او ستا خوښه یې، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (اجعلتنی لله ندا، آیا زه دی لله شریک وګرځولم؟ داسی ووایه: (ماشاءالله وحده، که دیوالله خوښه وی - (۱)

---

(۱) په اوسنی وخت کښی د پیرو زیاتو خلقو دخولو څخه پاته ناپوهئ سره دغه ډول ناروا اقوال زیات راوځی او بیا خصوصًا په هغه وخت کښی چې تملق اوغوړه مالی ورسره مل شی نو دکر خاونداتو اوهغو کسانو ته چې ورته په مادی لحاظ سره اړتیا لری په خطاب کښی وایی: خدای اوته په دا کارکوی، په خدای او تاباندی دا کارشو، که دخدای اوستا خوښ وی، نو دا کارکیږی، په خدای (باقی ص ۷۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی :
څوک چې لوړه رقسم، کوی نو هغه دی په الله سره قسم یاد کړی او یا داچې چپ د دسی. همدارنګه یې فرمایلی دی : چاچې د الله پاک نه په غیر په بل څه باندی لوړه وکړه نو هغه د شرک مرتکب وګرځید یعنی د الله پاک سره یې شریک پیدا کړو -

دغه ډول رسول الله صلی الله علیه وسلم ابن عباس رضی الله عنه ته و فرمایل : کله چې سوال کوی نو د الله نه او کله چې د مرستی غوښتنه کوی نو د الله څخه مرسته غواړه او وچ شوی دی قلم، یعنی فارغ شوی دی د هغه څه د لیکنی څخه چې مخکینی دی راتلونکی دی، او ته ورسره مخ کیږی (یعنی کوم شی چې تاته د رسیږی هغه مقدر شوی دی، که ټول خلق تاته د نفع رسولو کوښښ وکړی تاته ګټه نشی رسولی مګر هغه شی چې الله پاک ستا لپاره لیکلی وی، او که چیرته ټول خلق د دی خبری کوښښ وکړی چې تاته نقصان او زیان درورسوی نو تاته نقصان نه شی درر سولی مګر هغه شی چې الله پاک ستا لپاره لیکلی وی -

---

(باقی ۷۲) او تا باندی می سپارلی دی، خدای او تاته می سپارلی دی. د دغه حدیث له معنی دغه ډول اقوال شرعاً ناروا دی ځان ساتنه ورنه ضروری ده - (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غه ډول رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:
زما د توصیف په برخه کښی دومره افراط مه کوی
لکه څومره چی نصرانیانو د عیسی بن مریم په برخه
کښی کړی دی، بیشکه زه بنده یم ما ته دالله بنده او
د هغه رسول ووایئ. همدارنګه یی فرمایلی دی:
الله! ته زما قبر بُت ونه کړی چی عبادت یی شروع شی
د غه ډول رسول الله فرمایلی دی: زما په قبر
باندی اختر (خوشالی او میله) مه جوړوئ، پرما باندی
درود اووایی، بیشکه ستاسی درود هرځای کښی چی
یاستی ما ته رارسیږی.
همدغه ډول رسول الله صلی الله علیه وَسَلم د خپل
مرض په حالت کښی وفرمایل: په یهودو او نصارا وُی
دالله لعنت وی دوی د خپلو انبیاوو د قبرونو څخه
مساجد جوړ کړی وُ- ده خپلې امت د هغه ډول افعالو
او مراسمو د اجراکولو څخه ویرولو کوم چی دیهودانو
او نصرانیانو له خوا په دی برخه کښی منځ ته راغلی وُ-
اُمّ المؤمنین عائشه رضی الله عنها وایی:
که دا ویره نه وای چی خلق به بیا د رسول الله صلی
الله علیه وسلم د قبر نه مسجد جوړ کړی نو حتما به یی قبر
مکشوف یعنی بنکاره وای اوکوم حائل یا پرده به یی
نه لرلی، لیکن دا بد کار دی چی قبر یی بنکاره شی او مسجد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترینه جوړ شی[۱] «شیخ وایی» دا یو وسیع باب دی چې زښت زیات دلائل پکښې وجود لري - [۲]

(۱) لکه چې په فتح الباري کښې ذکر دی مراد په دی سره دکور څخه د باندی د دفن کیدل دی -

(۲) بټول هغه احادیث چې معنایی مخکښې ذکر شوه د سند په لحاظ سره جید او کره دی -

(په رڼه ستنی حدیث کښې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په یهود و او نصاراؤ باندی لعنت ویلی دی سبب یې وسله دا په ګوته کړی دی چې دوی د خپلو انبیاؤ د قبرونو څخه مساجد جوړ کړي ؤ، او بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل صحابه او امتیان په دی برخه کښې د هغه رول ا فعالو انبجو څخه ویرول کوم چې هغوی د خپل ځانه ایجاد کړي ؤ، بناءً اوس په دی باندی ځان پوه دل په کار دی چې د (اتخذوا قبور انبیائهم مساجد) چې معنایی دا ده، دوی د خپلو انبیاؤ د قبرونو څخه مساجد جوړ کړي ؤ، څه مقصد کیدی شی ؟ -

شیخ محمد ناصرالدین البانی د دغه (اتخاذ) یا مسجد جوړ ولو په باره کښې په (تحذیر الساجد من اتخاذ القبور مساجد) نومی خپل تصنیف کښې مفصل او په زړه پورې بحث کړی دی او د موضوع په اړه یې ټول روایات شمیرا احادیث په مختلفو روایاتو او عباراتو سره نقل کړی دی او بیایې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(اتخاذ) د علماؤ او محدثینو د اقوالو په رنړا کښې په دری ډوله داسې معنا کړې دی :

۱ - په قبرونو باندې لمونځ کول یعنې په قبرونو باندې سجده اینبودل .

۲ - قبرونو ته سجده کول او په لمانځه او دعا کښې ورته مخامخ کیدل .

۳ - په قبرونو باندې جوماتونه (مسلجد) جوړول او په کښې د لمانځه د آداء کولو قصد او اراده .

شیخ البانی دا هم لیکلی دی چې امام شافعی (رح) ویلی دی چې حدیث د غوږ ډرې وایږو معنا کا نو ته شامل دی .

د دغه رسالې د ژباړونکی په نظر چې د دغه درې ډوله معنا کا نو څخه هره یوه واخستل شی په اوسنی وخت کښې دهغې یوې له پاره مصداق وجود لري ځکه داسې جوماتونه وجود لري چې په مقبرو کښې په قبرونو باندې د پاسه آباد شوی دی ، او خلك پکښې لمونځ کوی .

د دغه راز پیر جوماتونه دی چې په اډیرو کښې اوږد اوږد غایبونو کښې د قبرونو په منځ او یا خوا و شا کښې جوړ شوی دی ، او دغه ډول په ځنو مسجدونو کښې بعضو پیرانو ، اخوندانو او ملا امامانو مړی دځنو خو غرض اشخاصو له خوا د فن کیدو چې اکثره یې په لمانځه او دعا کښې د قبلې په لوری مخې ته واقع کیږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا رنګه په مقبرو، درګاه کانو او په اصطلاح زیارتونو کښې سجده او ځنګاه او د قبرونو ښکله ول او ډوکول د قبرپرستو او زیارت پرستو له هوایوه عادي مسئله ګرځیدلې ده. په دې هکله دې د زیارت تفصیل له پاره د شیخ البانی کتاب (تحذیر الساجد من اتخاذ القبور مساجد) نه مراجعه وشي

الله پاک دې مونږ ټولو مسلمانانو ته د سمې لارې هدایت او کړي، او د هر ډول شرک او نارواو اعمالو څخه مو دې په امان کښې و ساتي).

(ژباړن)

هغه اسباب چې الله پیدا کړي دي انکار ترې نشي کیدای

مؤمن سړه له دې چې په دې باندې علم لري چې الله پاک د هر شي پالونکی او مالک دی، خو دې سړه سړه د هغو اسبابو څخه چې الله تعالی پیدا کړي دي انکار نلري د مثال په توګه (الله ج) د نباتاتو د را ټولولو او زرغونولو له پاره لکه چې فرمایي باران یې سبب ګرځولی دی -

(وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن مَّآءٍ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ) (۱)

(۱) بقره: ۱۶۴ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه: او په هغه څه کښې چې را ورولی دی الله تعالیٰ د آسمان له طرفه له اوبو څخې نوزر غونه کړې دي ده په هغوا و بوسره څکه پس د ډچ والی د هغې نه او خپاره کړې یې دی په دی څکه کښې له هر قسمه زنده سر یعنی څوښ د- مسنګو څخه ۔

د غه راز لمر او سپوږمۍ د هغه شیانو له پاره اسباب ګرځولی دی د کومو د چې د غو د وا په د یعنی لمر او سپوږمۍ پوري اړه لري ۔

د غه ډول یې دعا او شفاعت په هغه څه کښې چې په دعا او سفارش سره حاصلیږي اسباب ګرځولی دی ۔

د مثال په توګه په د مسلمانانو له خوا د جنازې د لمونځ ادا کول شول، څکه د جنازې لمونځ د هغوا سبا بود جملې څخه دی چې الله پاک د هغې په توسه سره پر مړي باندې رحم کوی او په د غه مړي باندې د جنازې د لمانځه ادا کونکو ته ثواب ورکوی ۔

اما په اسبابو کښې د ری ټکوته متوجه کیدل په کار دی یو داچې د مقصد د حصول له پاره په خاص ډول سره کوم څانګړي سبب په پام کښې ونه نیول شي بلکښې د د غه سبب په څنګ کښې د نورو اسبابو څخه هم استفاده کول ضروري دی او د دی سره سره د مطلوب د لاس ته راوړلو په لار کښې څنډوات هم وي چې د هغې لري کول هم ضروري

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی نوکه چیرته اسباب بشپړه نه شی او خندان له منځه لاړ نشی مقصد نه حاصلیږی، او الله (ج) چې پاک او منزه دی هغه څه لره چې خوښه یی وی هغه پیدا او شته کاندی اګر چې د خلقو خوښه نه وی، او کوم شی چې د خلقو خوښ وی نو د هغی وجود هله ممکنه کرځی چې الله پاک یی پیدا کیدو اراده وکړی۔

دویم داچې دیوشی په سببیت باندی عقید ساتل بی له دی چې په سببیت باندی علم ولری، ممنوع امردی، پس هغه څوک چې دیو داسی شی سببیت ثابته وی چې یاوَر باندی علم نه لری او یا هغه د شریعت مخالف وی هغه په باطله لاره روان دی، لکه هغه شخص چې د نذر متعلق په دی کمان اوسی چې نذر د مصیبتو نو د مخ نیوی او د نعمتو نو د حصول په برخه کښی یوسبب دی، ځکه په صحیحینو کښی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ثابته ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د نذر د منلو څخه منع کړی ده او فرمایلی یی دی: نذر منونکی د نذر په اداکولو سره کوم غوره عمل نه ترسره کوی بلکینی نذر صرف د بخیل دلاسه د مال د خروج او د تلو یوه لاره ده۔

درېیم داچې دینی اعمالو کوم چې مشروع نه وی د اسبابو د جملی څخه نه حسابیږی، ځکه چې مبنی د عبادا تو توقیفی ده، یعنی د شارع څخه د سمع او نقل پورې اړه لری پس انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پاره دا جائزندی چی دی دالله پاک سره شریک مقرر کړی، او دالله تعالی څخه په غیر بل چاته را مدد شه وویلی، راویښ کیږي او عبادت یې ورله پیل کړی، اګرچې دی په دی ګمان اوسی چې د غیر الله بلنه د ده له پاره د ځنو مقاصدو د لاس ته راوړلو په برخه کښی سبب جوړیږی دای شی. له همدی امله هغه طریقې چې د شریعت مخالفې او بدعت دی د الله تعالی د عبادت په برخه کښی ورباندی دا ښان له پاره عمل ترسره کول اګرچې دی پرې د شریعت ګمان هم کوی، ممنوع او ناروا دی.

دا خبره هم په یاد کښی نیول په کار دی چې کله کله دا نسان سره د ځنو مقاصدو په لاس ته راوړلو کښی هغه وخت چې دی دالله تعالی سره شریک مقرر کاندی شیطان مرسته کوی، او کله کله دا نسان ځنی حاجتونه رکفر، فسق، او عصیان په وجه سره حاصلیږی هغه د له پاره د دغو اعمالو انجامول حرام او ناروا دی ځکه کوم فساد چې د دغه افعالو په ارتکاب سره منځ ته راځی هغه د پرلوی دی په نسبت سره هغه مصلحت ته چې د دغو ناروا اعمالو په انجامولو سره منځ ته راځی.

او دا ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت مقصد ګټو مصالح تحصیل او تکمیل او د مفاسد و تقلیل، او د له منځه وړل دی پس الله پاک چې په کوم شی سره امر کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د هغی د ټائډی او ګنټی د سولو اړخ راجح اوښیاتـ
متصور دی او د ګومرشی څخه چې یې منع کړې ده
نو په هغی کښې د فساد د منځ ته راتلو جانب راجح اوزیات
متصور دی -

دا یو څو جملی دی چې زښت ډیات بسط او تفصیل
لری، خو دا چې په دغو محدودو پاڼو کښې نه ځائیږی
نو په لنډو ډول سره ودې باندی ړنا واچول شوه

واللہ اعلم

وصلی اللہ تعالیٰ علی خیر خلقه محمد وعلی آله واصحابه
اجمعین ط

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library